# من الأحكام الفقهية في الطهارة والصلاة والجنائز

د طهارت، لمونځ او جنازې فقهي احکام

محمد بن صالح العثیمین

د علامه شیخ محمد بن صالح العثیمین رحمه الله لخوا لیکل شوی کتاب "د طهارت، لمونځ او جنازې فقهي احکام" چې د قرآن او سنت پر بنسټ د پاکوالي، لمونځ او جنازه په واضح ډول تشریح کوي، د دې کتاب موخه داده چې مسلمان خپل عبادتونه د رسول الله (صلى الله علیه وسلم) د منهج مطابق، په بصیرت او پوهې سره ترسره کړي، همداراز، دا کتاب د نبي کریم (صلى الله علیه وسلم) د طریقي په پیروي کې هڅه کوي، او د اسانتیا او التزام ترمنځ توازن ساتي، همدارنګه اخلاص او پیروي ته تشویقوي ترڅو عبادتونه د الله جل جلاله لپاره د منلو وړ او د هغه تعالی نږدې والی حاصل شي.

## د طهارت، لمونځ او جنازې فقهي احکام

د عالیقدر شیخ؛ علامه

محمّد بن صالحٍ العثیمین په قلم

الله دې هغه، او د هغه مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړي

## سریزه

الحمد للَّه نحمده، ونستعينه ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ باللَّه من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلَّا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنَّ محمدًا عبده ورسوله، صلَّى الله عليه وعلى آله وأصحابه والتابعين لهم بإحسان، وسلَّم تسليمًا، أمَّا بعد:

عبادت تر هغه پورې نه بشپړېږي او نه قبلېږي تر څو چې په دوو اساسي شیانو ولاړ نه وي: د الله تعالی لپاره اخلاص، او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پیروي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ...﴾ (حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). [البينة:5]، الله تعالی لپاره اخلاص: پدې معنی چې یو څوک د خپلو کړنو له لارې د الله تعالی د رضا او د هغه د احکامو د پلي کولو اراده ولري.

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي : په دې معنی ده چې عبادت هغه څه ته محدود وي چې په سنت کې راغلي دي، نه زیاتوالی په کې راشي او نه کمښت، دا یوازې د هغه صلی الله علیه وسلم د سنتو په پوهېدو سره تر لاسه کیدی شي.

له همدې کبله، اړینه ده چې هرڅوک هڅه وکړي خپل ټول عبادات د الله تعالی د کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د سنتو په رڼا کې وي، تر څو د الله تعالی په بصیرت سره د الله تعالی عبادت وکړي، او د هغه لارې د سالم والي څخه ډاډمن وي چې هغه يې په خپل عبادت کې تعقیبوي، او خپل عمل کې د نبي صلی الله علیه وسلم امامت په ذهن کې ولري، او ځان دې د هغه پیرو وبولي،

او په دې عمل سره د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره یې مینه زیاته شي، او الله تعالی ته په دې عمل سره د نیږدیوالي احساس وکړي.

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ...﴾
(حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). [البينة: 5]

دا باید په پام کې ونیول شي چې د عبادت ځینې اعمال په بیلابیلو بڼو ترسره کیږي، په ځانګړي توګه هغه عبادتونه چې ډېر تکراریږي، لکه اودس، غسل، او لمونځ.

د دې تنوع حکمت (والله اعلم) په لاندې ټکو کې ده:

لومړی: د مسؤل (مکلَّف) کس لپاره اسانتیا؛ ترڅو هغه ته اختیار ورکړ شي چې هر ډول غوره کوي، خو هر ډول چې غوره کوي یوازینۍ شرط یې د سنتو پیروي کول دي.

دویم: په یو ډول باندې ټینګار د ستړیا لامل ګرځي، نو په دې سره ستړتیا او سستوالي دفع کیږي.

دریم: د عبادت د تحقق لپاره د زړه حرکت او نشاط؛ځکه چې که په یو ډول دوام او ټینګار وشي، ترڅو د عادت په څیر وګرځي، هغه به پرته له شعور څخه قولي یا فعلي عبادت ترسره کړي، خو که هغه له یو ډول څخه بل ډول ته انتقال وکړي؛ نو زړه تحرک پیدا کوي، او د الله تعالی د عبادت او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پیروي او تعقیبولو لپاره زړه د عبادت په موخه نشاط ترلاسه کوي.

علماء (رحمهم الله) د دې ډول عبادتونو په اړه مختلف نظرونه لري: ایا دا غوره ده چې په یو ډول باندې پاتې شو، او تر ټولو بشپړ یا تر ټولو صحیح، یا ورته یو څه غوره کړو، او هغه ته دوام ورکړو؟ یا دا غوره ده چې کله دا ډول ترسره کړو، او کله بل ډول ترسره کړو؟

تر ټولو راجح او غوره دا ده چې: کله یو ډول ترسره شي، او کله بل ډول ترسره شي؛ ترڅو دواړو ډولونو باندې عمل وشي، او هغه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي کول ترلاسه شي، خو! که د حالاتو له امله یو ډول مناسب وي (لکه د خوف لمونځ ځینې ډولونه)، نو هماغه ډول باندې باید بسنه وشي.

او هغه څه چې په مختلفو بڼو کې راغلي دي، او د دې قاعدې لاندې راځي: د طهارت ځینې احکام، او د لمانځه شکلونه، او د هغې قولونه.

دا هغه لنډیز دی چې د طهارت (پاکوالی)، لمونځ، او جنازو په اړه د فقهي احکامو څخه راټول شوي دي، په دې کې یواځې هغه احکام شامل دي چې یا د قرآن کریم څخه ثابت دي، یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح سنتو کې راغلي دي.

له الله تعالی څخه سوال کوو چې دغه هڅه یواځې د خپل رضا لپاره قبوله کړي، او د دې په ذریعه دې د خپل شریعت ساتنه وکړي، او د بندګانو لپاره یې ګټور وګرځوي؛ بېشکه هغه ډېر ښېوونکی او کریم ذات دی.

والحمد لله ربِّ العالمين، وصلى الله وسلَّم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد، وعلى آلـه وأصحابـه أجمعين، ومن تبعهم بإحسانٍ إلى يـوم الدِّين.

محمّد بن صالحٍ العثيمين

## *لومړی فصل: طهارت*

اودس.

غسل.

تيمم.

په موزو مسح کول.

په پګړيو باندې مسح کول.

په جبيره (د هډوکو پټه يا ګچ) مسح کول.

### اودس

اودس: د ځلورو غړو په ځانګړي ډول مينځلو سره د الله تعالى عبادت کول دي.

او دا د هر بې اودس (محدث) شخص لپاره واجب دی چې غواړي لمونځ وکړي، د الله تعالى د دې وينا پر اساس:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِ...﴾

( ای مومنانو! کله چې لمانځه ته پاڅئ نو مخونه مو پرېمينځئ او لاسونه مو تر څنګلو او په سرونو مو مسح وکړئ او پښې مو تر بنينګرو (ګيټو) ومينځئ...) [المائدة: 6]

اودس د لمونځ صحت او قبلېدلو لپاره شرط دی؛ د نبي صلی الله علیه وسلم د دې وینا پر اساس:

«لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ»

"الله تعالی د هغه چا لمونځ نه قبلوي چې بې اودس وي، تر هغه چې اودس وکړي" بخاري او نورو د ابو هریرة رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړي[1].

او هغه څه د اودس د فضیلت په اړه راغلي دي:

عمر رضي الله عنه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې یې فرمایل:

«مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُسْبِغُ الْوَضُوءَ، ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ».

«له تاسو څخه چې هر څوک په بشپړ ډول اودس وکړي او بیا ووایي: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ) یعنې: زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله بنده او د هغه رسول دی، نو د جنت اته دروازې به ورته پرانستل شي او له هرې یوې چې وغواړي ننوتلی شي»[2].

---

[1] بخاري په کتاب الحیل، باب في الصلاة، شمېره (6954)، او مسلم په کتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، شمېره (225) کې نقل کړي.

[2] مسلم به کتاب الطهارة، باب الذکر المستحب عقب الوضوء، شمېره (234) پرته له دې قول څخه: «ٱللَّهُمَّ ٱجْعَلْنِي مِنَ ٱلتَّوَّابِينَ، وَٱجْعَلْنِي مِنَ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ»، او ترمذي په کتاب الطهارة، باب فیما یقال بعد الوضوء، شمېره (55) کې نقل کړي.

له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ، حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ»

"څوک چې ښه اودس وکړي، نو ګناهونه يې له بدن څخه وځي، تر دې چې د نوکانو له لاندې برخې څخه يې هم وځي". مسلم روايت کړی[1].

او له علي بن ابو طالب -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې نبي کريم -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي:

«إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَإِعْمَالُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ يَغْسِلُ الْخَطَايَا غَسْلًا».

«په سختيو کې اودس بشپړول، او جوماتونو ته د قدمونو کارول، او له يو لمانځه وروسته بل لمانځه ته انتظار کول، ګناهونه په بشپړه توګه له منځه وړي»[2].

* د اودس طريقه:

١- دا چې په زړه کې - پرته له دې چې په ژبه نيت وکړي - د ناپاکۍ لرې کولو نيت وکړي، او يا د هغه څه لپاره اودس کول چې د هغه لپاره فرض شوي وي، لکه لمونځ، ځکه چې الله تعالی پوهېږي چې د اودس کوونکي په زړه کې څه دي،

1 مسلم په کتاب الطهارة، باب خروج الخطايا مع ماء الوضوء، شمېره (245) کې نقل کړی.

2 ابو يعلی (1/379) په شمېره (488)، او البزار (2/ 161) په شمېره (528)، او الحاکم په «المستدرك» (1/ 132) کې نقل کړي.

او ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل اودس، لمونځ یا نور عبادتونه کې په ژبه نیت نه دی کړی.

۲. بیا به: "بسم الله" ووایي.

۳- درې ځله به خپل لاسونه ومینځي.

۴- درې ځله مضمضه او استنشاق او استنثار کول، په درې لپو سره.

۵- بیا دې خپل مخ درې ځله ومینځي، د مخ حدود: په اوږدوالي کې د ویښتانو د ودې له معمول ځای څخه د ږیرې او زنې پورې، او په عرض کې د یو غوږ څخه تر بل غوږ پورې دي.

۶- بیا به خپل ښي لاس، بیا کیڼ لاس، د ګوتو له سر څخه تر څنګلو پورې درې ځله ومینځي، او څنګلې به هم په مینځلو کې شاملې وي.

۷- بیا به خپل سر په خپلو لاسونو سره یو ځل مسح کړي، لاسونه به ، لامده کړي او د سر د مخکینۍ برخې څخه به یې پیل کړي تر هغه چې د سر شاته ورسیږي، بیا به یې بیرته هغه ځای ته راولي چې له هغه ځایه یې پیل کړی و،

او سر د مخ له پلوه د ویښتانو د ودې له ځایه، او د شا له پلوه د غاړې پورتنۍ حصې پورې، او د ښي او چپ له پلوه د دوړاړو غوږونو په منځ کې دی.

۸- بیا به خپلو دواړو لاسونو سره یو ځل خپل غوږونه مسح کړي ، او د شهادت ګوتې د غوږونو په سوریو کې چې د

اورېدو سوري دي، ننباسي، او د غتو ګوتو په واسطه دې بهرنۍ خواوې مسح کړي.

۹- بيا دې خپله ښۍ پښه او بيا دې کينه پښه د ګوتو له څوکو څخه تر ښنګرو پورې درې ځله ومينځي، او دواړه ښنګرې په مينځلو کې شامل دي، او دا د پونديو په ښکته برخه کې دوه څرګند هډوکي دي.

دا هم جواز لري چې درې ځله مينځل په يوه ځل مينځلو محدود شي، يا په دوو مينځلو پورې محدود شي.

## غسل

غسل: د ټول بدن د پاکولو له لارې د الله تعالی عبادت کول دي، دا د هر هغه چا لپاره واجب ده چې د لوی ناپاکۍ په حالت کې وي يا د نورو شرعي علتونو له مخې چې غسل په کې لازم ګڼل کيږي؛ د الله تعالی د دې قول پر اساس:

﴿...وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْ...﴾

(... او که جنب وئ نو ځان ښه پاک کړئ...) [المائدة:6].

* د غسل طريقه:

۱- په زړه کې نيت کول، پرته له دې چې نيت په ژبه ووايي، چې د لوي نجاست د لرې کولو يا د هغه څه لپاره غسل کول چې د غسل لپاره مشروع وي، لکه د جمعې لمونځ.

۲- بيا دې ووايي: «بِسمِ الله».

۳- بيا دې درې ځله خپل لاسونه ومينځي.

۴- بيا دې خپل شرمګاه ومينځي.

۵- بیا دې په بشپړ ډول اودس وکړي څرنګه چې لمونځ لپاره اودس کوي.

۶- بیا دې خپل سر ومینځي، اوبه دې واخلي، او د خپلو ویښتانو بېخونه دې خلال کړي ترڅو اوبه ور ورسېږي، بیا دې درې ځله پر سر اوبه راواړوي.

۷- بیا دې خپل ټول بدن ومینځي.

که چېرې په بدن کې یو ځای مات شوی یا زخم وي چې د پانسمان (حائل) اچولو ته اړتیا ولري، نو هغه دې په خپل حالت پرېږدي، او د دې پرځای چې د پانسمان لاندې برخه ومینځي، هغه ځای باندې دې مسح وکړي؛ ځکه چې که د پانسمان (حائل) ځای په مینځلو کې عذر وي؛ په دې حالت کې مسح کول کافي ده؛ د الله تعالی د دې وینا له مخې:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ...﴾

نو څومره چې کولای شئ له الله څخه ووېرېږئ.

[التغابن:16]، او دا د ضرورت مسح ده، نو د هغې د ساحې او وخت سره سم اندازه کېږي، او حایل (پانسمان) او د اړتیا له ځای څخه باید تجاوز و نه شي، او کله چې مات شوی ځای یا زخم روغ شي؛ حایل (پانسمان) باید لرې کړی شي.

که د بدن په کومه برخه کې مات شوی ځای یا زخم وي چې مینځلو سره زیانمن کېږي، او هغه ځای باندې هېڅ مانع (حایل) نه وي؛ د مینځلو پر ځای دې په اوبو سره مسح کړي، او که چېرې مسح کول هم ورته زیان رسوي، نو د هغه لپاره دې تیمم وکړي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ...﴾
(نو څومره چې کولای شئ له الله څخه ووېرېږئ...)
[التغابن:16]، او د الله تعالی دا قول:
﴿...هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ...﴾
(... هماغه تاسو (خپل کار ته) غوره کړي یاست، او په دین کې یې پر تاسو څه تنګون نه دی راوستی...) [الحج:78].

او دا مسح - که حایل (پانسمان) باندې وي یا د ناروغ پر غړي باندې وي - د غسل ځای نیسي، نو دې باندې طهارت او پاکوالی بشپړیږي، او د عذر له منځه تلو وروسته د ځای بیا مینځلو ته اړتیا نشته.

که دومره اوبه وموندل شي چې د هغه د بدن د ځینو برخو لپاره کافي وي؛ هغه دې وکاروي، او د پاتې نورو برخو لپاره دې تیمم وکړي.

### تیمم

تیمم: دا الله تعالی ته د عبادت په توګه د خپلې پاکۍ لپاره د خاورې کارول دي، چې په دې کې د مخ او لاسونو مسح کول شامل دي، کله چې د اوبو کارول ناشوني وي؛ یا د اوبو نشتوالی وي یا د ناروغۍ یا بل علت له امله د اوبو کارول ګواښونکي وي.

او تیمم د اوبو په وړاندې د کوچني یا لوی حدث (ناپاکۍ) د پاکولو بدیل دی، الله تعالی فرمايي:
﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ...﴾

(ای مومنانو! کله چې لمانځه ته پاځئ نو مخونه مو پرېمینځئ...) د الله تعالی تر دې قول پورې:

﴿...وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾

(... او که ناروغان وئ، یا په سفر، یا کوم یو د میتیازو ځای نه راغلئ یا مو ښځو ته لاس وروړی وي او اوبه بیانهمومئ نو د پاکي خاورې تیمم وکړئ او په مخونو او لاسونو یې وموښئ، الله نه غواړي چې پر تاسو څه تنګون راولي خو دا غواړي چې سوتره مو کړي او خپل نعمت درباندې تمام کړي چې شکر وباسئ) [المائدة:6].

او د تیمم پاکي یوه بشپړه پاکي ده چې حدث لرې کوي تر هغه چې د اوبو د کارولو توان ولري؛ د الله تعالی د دې فرمان له مخې:

﴿...وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ...﴾

(... خو دا غواړي چې سوتره مو کړي...) [المائدة: 6]، او د نبي صلی الله علیه وسلم دا قول:

«جُعِلَتْ لِي الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ»

"زما لپاره ځمکه د سجدې ځای او پاکوونکی ګرځول شوې ده، او زما د امت هر څوک چې لمونځ لاندې کړي، نو لمونځ

دې وکړي" بخاري روایت کړی[1]، او طَهور: هغه څه ته ویل کیږي چې طهارت وربانديې حاصلیږي.

نو په دې اساس، که چېرې یو څوک د نفل لمونځ لپاره تیمم وکړي، نو د فرض لمونځ هم په همدې تیمم سره ادا کولی شي، تیمم د لمونځ وخت د داخلېدو دمخه هم صحیح دی، او د وخت تېرېدو سره نه باطل کیږي، او که چېرې یو څوک د کوچني حدث (ناپاکۍ) لپاره تیمم وکړي، نو د هغه تیمم یوازې د بل حدث سره باطلیږي، او که چېرې یو څوک د لوي حدث لپاره تیمم وکړي، نو د هغه تیمم یوازې د بل لوي حدث سره باطلیږي.

خو تیمم د عذر له منځه تلو سره باطلیږي، نو که چېرې اوبه وموندل شي، نو تیمم باطلیږي، او که له ناروغۍ څخه روغ شي، نو تیمم باطلیږي، که تیمم د کوچني حدث لپاره وي یا د لوی حدث لپاره، نو د کوچني حدث لپاره چې تیمم یې کړی وي، نو باید اودس وکړي، او که د لوي حدث لپاره یې تیمم کړی وي، اوس باید غسل دې وکړي.

او تیمم په هرې ځمکې باندې صحیح دی، که خاورینه وي یا شګلنه یا د ډبرو وي، او د هغه شیانو سره چې د ځمکې څخه جوړ شوي وي لکه دیوال؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وینا له مخې:

«وَجُعِلَتْ لِي الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا»،

---

[1] بخاري په کتاب التیمم، باب قول الله: ﴿...فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡ...﴾، شمېره (335)، او مسلم په کتاب المساجد، شمېره (521) د جابر رضي الله عنه د حدیث څخه نقل کړي دي.

«زما لپاره ځمکه د سجدې ځای او پاکوونکی ګرځول شوې ده»[1]،

او د ابو جهیم بن حارث بن صمه انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی،

«أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الجِدَارِ، فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ».

"یو سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخ شو او سلام یې ورته وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم تر هغه پورې سلام ته ځواب ورنه کړ تر څو چې دیوال ته یې مخ وګرځاوه، خپل مخ او لاسونه یې مسح کړل او بیا یې سلام ته ځواب ورکړ". دواړه حدیثونه بخاري روایت کړي[2].

* د تیمم طریقه:

په زړه کې د حدث د لرې کولو نیت کوي، او د لمونځ یا د هغو نورو عبادتو لپاره چې تیمم په کې مشروع دی، بیا دې "بسم الله" ووایي، او د خپلو دواړو لاسونو په واسطه یو ځل ځمکه باندې ووهي، بیا دې خپل مخ او دواړه لاسونه مسح کړي.

---

1 تخریج یې مخکې تېر شو.

2 بخاري په کتاب التیمم، باب التیمم في الحضر إذا لم یجد الماء، شمېره (337) کې روایت کړی، او څرنګه چې مسلم په کتاب الحیض، باب التیمم، شمېره (369) کې راوستی دی.

**په موزو باندې مسح کول**

د خفين (موزو) څخه مقصد: هغه څه دي چې د پښو پر سر د څرمن يا نورو ځيزونو څخه جوړ شوي وي.

د جرابو څخه مقصد: هغه څه دي چې په پښو کېږي چې د مالوچ يا نورو موادو څخه جوړ شوي وي.

* د خفينو (موزو) او جرابونو باندې د مسح کولو حکم:

موزو او جرابونو باندې مسح کول د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت دي، نو چا چې موزې يا جرابې اغوستي وي؛ نو د هغو مينځلو پر ځای هغو باندې مسح کول غوره ده.

او دليل يې: د مغيرة بن شعبه رضي الله عنه حديث دی چې وايي:

أَنَّ النَّبيَّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ تَوَضَّأَ، قالَ المُغِيرَةُ: فأَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ، فَقَالَ: «دَعْهُمَا؛ فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ»، فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم اودس وکړ، مغيره وويل: نو زه ښکته شوم چې (د اودس پر مهال يې) موزې وباسم، نو ويې فرمايل: « پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي، (يعني په اودس مې پښو کړي دي)» نو پر دواړو يې مسح وکړه[1].

---

[1] بخاري په کتاب الوضوء، باب إذا أدخل رجليه وهما طاهرتان، شمېره (206)، او مسلم په کتاب الطهارة، باب المسح على الخفين، شمېره (79/274) کې نقل کړي.

په موزو باندې مسح کول د الله په کتاب (قرآن) او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت کې ثابت دی.

کوم چې د الله په کتاب کې دی؛ د الله تعالی په دې قول کې دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِ...﴾

( ای مومنانو! کله چې لمانځه ته پاځئ نو مخونه مو پرېمينځئ او لاسونه مو تر څنګلو او په سرونو مو مسح وکړئ او پښې مو تر ښينګرو (ګيټو) [و وينځئ]...) [المائدة:6]، او د هغه تعالی دا قول:

﴿...وَأَرۡجُلَكُمۡ...﴾

( ... او پښې مو ...) په دوو سبعي او صحيحو قرائتو باندې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل شوي دي.

لومړی قرائت: (وَأَرۡجُلَكُمۡ): چې "وُجُوهَكُمۡ" باندې عطف دی، او معنا يې دا ده چې پښې بايد ومينځل شي.

دويم قرائت: (وَأَرۡجُلِكُمۡ) په جر سره چې "بِرُءُوسِكُمۡ" باندې عطف دی، او معنا يې دا ده چې دواړه پښې مسح شي.[1]

---

[1] په نصب باندې نافع او ابن عامر او حفص عن عاصم او کسائي قرائت کړي دي، او په جر باندې ابن کثير او أبو عمرو او شعبة له عاصم او حمزة قرائت کړي دي، څرنګه چې په «الكشف عن وجوه القراءات السبع» (1/ 406) کې راغلي دي.

هغه څه چې واضح شو دا دی چې پښه که مَسح کېږي یا وینځل کېږي، سنت دي، نو کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پښې ښکاره او لوڅې وې، هغه به یې وینځلې، او کله چې په موزو باندې پټې وې، هغې باندې به یې مَسح کوله.

او هر چې په دې باره کې د سنت دلیل دی؛ نو په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه متواتر (په ګڼو سندونو راغلي) ثابت دي، امام احمد رحمه الله وايي: «زما په زړه کې د مَسحې په اړه هېڅ شک نشته، په دې اړه څلویښت حدیثونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو څخه راغلي دي».

او د نظم څخه یوه بېلګه دا ده چې ناظم وايي[1] :

هغه حدیث چې تواتر په شکل راغلی: «چا چې دروغ ووایه...» *** او "څوک چې د الله لپاره کور جوړ کړي او د اجر هیله ولري"

او لیدل، شفاعت، او حوض، او موزو باندې مسح کول، او دا یې ځینې دي

* په موزو باندې د مسح کولو شرطونه:

په موزو باندې مَسح کول څلور شرطونه لري:

لومړی شرط: دا چې موزې یې په طهارت (اودس سره) په پښو کړي وي، او د دې دلیل: د نبي صلی الله علیه وسلم دا حدیث دی چې مغیرة بن شعبه ته یې وفرمایل:

---

[1] نظم د تاودي ابن سودة ده، څرنګه یې چې د صحیح بخاري په حاشیه ذکر کړی (1/ 125).

«دَعْهُمَا؛ فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ».
« پرې يې ږده، يقينا چې له پاکۍ سره مې پښو کړي دي»[1].
دويم شرط: دا چې موزې يا جرابې پاکې وي، که نجسې (ناپاکې) وي، نو مَسح پرې جائز نه ده، د دې دليل:
«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى ذَاتَ يَوْمٍ بِأَصْحَابِهِ وَعَلَيْهِ نَعْلَانِ، فَخَلَعَهُمَا فِي أَثْنَاءِ صَلَاتِهِ، وَأَخْبَرَ أَنَّ جِبْرِيلَ أَخْبَرَهُ بِأَنَّ فِيهِمَا أَذًى أَوْ قَذَرًا».
«يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابو ته لمونځ ورکاوه، په پښو کې يې څپلۍ وې، نو د لمانځه پر مهال يې هغه لرې کړې او وې ويل چې جبرائيل عليه السلام هغه ته خبر ورکړ چې په هغو کې يو څه چټلي يا ناپاکي ده»[2]. دا په دې دلالت کوي چې په هغه ځای کې لمونځ کول جائز نه دي چې نجاست ولري، ځکه چې که چيرې نجاست په اوبو سره مسح شي، نو مسح کوونکی په نجاست ککړ کيږي، نو دا پاکونکی نشي کيدی.
دريیم شرط: مَسح بايد د کوچني حدث (نا پاکۍ) لپاره وي، نه د جنابت، يا د هغه څه لپاره چې غسل پرې واجبيږي، او دليل يې: د صفوان بن عسال رضي الله عنه حديث دی، چې وايي:

---

[1] وړاندې تخريج شوی دی (مخ 180).
[2] ابو داود په كتاب الصلاة، باب الصلاة في النعل، شمېره (650)، او احمد (3/ 20) نقل کړي، د ابو سعيد رضي الله عنه له حديث څخه.

«أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنَّا سَفْرًا أَلَّا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ، وَلَكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ».

" رسول صلى الله عليه وسلم موږ ته امر کړی چې کله موږ سفر کاوه، نو درې ورځې او شپې خپل موزې و نه باسو پرته له جنابت څخه، مګر د حاجت رفع کولو، ادرار کولو او خوب لپاره"[1]. نو شرط دا دی چې مَسح یوازې په کوچني حدث کې وي، او په لوی حدث (جنابت) کې مَسح جائز نه ده؛ د دې حدیث له مخې چې مو مخکې یاد کړ.

څلورم شرط: دا دی چې مسح باید په محدود شوي شرعي وخت کې وشي، چې مقیم لپاره یوه ورځ او یوه شپه ده، او مسافر لپاره درې ورځې او شپې دي؛ له دې کبله چې علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) روایت کړی دی، چې وایي: "نبي کریم صلى الله علیه وسلم د مقیم لپاره یوه ورځ او یوه شپه، او د مسافر لپاره درې ورځې او شپې تعیین کړې دي، یعنې: د موزو په مسح کې". مسلم نقل کړی[2].

دا موده د نجاست وروسته د لومړي مسح کولو څخه پیلیږي، او د مقیم لپاره د څلورویشت ساعتونو وروسته او د مسافر لپاره د دوه اویاوو ساعتو وروسته پای ته رسیږي، نو

---

[1] ترمذي په کتاب الطهارة، باب المسح على الخفين، شمېره (96)، او نسائي په کتاب الطهارة، باب التوقيت في المسح على الخفين، شمېره (127)، او ابن ماجه په کتاب الطهارة، باب الوضوء من النوم، شمېره (478)، او احمد (4/ 239) کې روایت کړي دي.

[2] مسلم په کتاب الطهارة، باب التوقيت في المسح على الخفين، شمېره (276) کې نقل کړی.

که فرض کړو چې یو کس د سې شنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره ځان پاک کړ، او د چهارشنبې په شپه د ماښام د لمانځه تر ادا کولو پورې په طهارت کې پاتې شو، او ویده شو، بیا د چهارشنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره پاڅېد، او د زوالي وخت په پنځو بجو یې مسح وکړه؛ نو د موده پیل به د چهارشنبې د ورځې د سهار له پنځو بجو څخه د پنجشنبې په ورځ د سهار تر پنځو بجو پورې وي. که فرض کړو چې هغه د پنجشنبې په ورځ تر پنځو بجو مخکې مسح وکړه، نو هغه کولی شي چې د سهار لمونځ - یعني د پنجشنبې د سهار لمونځ- په همدې مسح سره ادا کړي، او نور لمونځونه هم ادا کولی شي چې غواړي یې تر هغه چې په طهارت کې وي؛ ځکه چې د علماءو د راجح قول له مخې، د مسح مودې د پای ته رسېدو سره اودس نه ماتیږي؛ ځکه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د طهارت لپاره موده نه ده ټاکلې، بلکې یوازې د مسح لپاره موده ټاکلې ده، نو کله چې موده پای ته ورسیږي، مسح نه شي کېدلی، خو که چېرته هغه په طهارت کې وي، نو طهارت یې باقي ده، ځکه چې دا طهارت د شرعي دلیل له مخې ثابت شوی دی، او هغه څه چې د شرعي دلیل له مخې ثابت شوی وي، پرته له شرعي دلیل څخه له منځه نه ځي، نو د مسح د مودې پای ته رسیدو سره د اودس د ماتېدو لپاره هېڅ شرعي دلیل نشته، ځکه چې اصل د هغه بقا په هماغه شکل دی چې و، تر هغه چې زوال یې روښانه شي، دا هغه شرطونه دي چې د موزو په مسح کې لازمي دي، نور هم ځینې شرطونه شته چې ځینو علماءو ذکر کړي دي، خو په هغو کې ځینې نقدونه شتون لري.

[الفاتحة: 1-7]،

[الإخلاص: 1]، [الفلق: 1]، [الناس: 1].

[الانشقاق: 1]،

[الكافرون: 1] [الإخلاص: 1]

## د موزو، پګړیو او جبیره (پټیې یا پلستر) په اړه د پوښتنو یوه ټولګه

الحمد لِلَّه ربِّ العالمين، وأُصلِّي وأُسلِّم على نبيِّنا محمد، وعلى آله وأصحابه ومن تَبِعَهُم بإحسانٍ إلى يوم الدِّين.

و بعد؛ ما د دې پوښتنو ځوابونه واورېدل چې زما څخه د موزو او پګړیو او جبیره (پټۍ یا پلستر) د مسح کولو په باب کې مطرح شوي وو، دا د هغه ځواب سره ورته وه چې ما ثبت کړي و، او ما په هغې کې یو څه کوچني تعدیلات راوستل، ما د هر هغه چا لپاره چې غواړي چاپ یې کړي، د چاپ اجازه ورکړې ده، په دې شرط چې دوی تصحیح ته پاملرنه وکړي، او د چاپ حق یې د ځان یا بل چا لپاره نه وي.

د الله تعالی څخه غوښتنه کوم چې ټولو ته بریالیتوب او قبولیت په برخه کړي.

دا يې ليکوال وايي

محمد الصالح العثيمين

په 1410/5/19هـ

**موزو باندې مسح**

پوښتنه (۱): ځینو فقهاو دا شرط ایښی چې موزې باید د فرض ځای پټ کړي، ایا دا شرط صحیح دی؟

ځواب: دا شرط صحیح نه دی، ځکه چې په دې باندې هېڅ دلیل نشته؛ ځکه چې ترڅو چې د موزو یا جورابو نوم باقي وي؛ مسح پرې جواز لري؛ ځکه سنت د موزو پر مسح کولو په مطلق ډول راغلی دی، او هر هغه څه چې شارع مطلق پرېښي وي، د هغه په تقیید کولو کې هېڅوک حق نلري، مګر دا چې هغه سره د شارع لخوا نص یا یو شرعي قاعده وي، کوم چې تقیید څرګندوي.

او پر دې اساس، سوري لرونکي او نازکو موزو باندې مسح کول جواز لري؛ ځکه چې د موزو مقصد د پوستکي پټول نه دی، بلکې مقصد یې د پښو د ګرمولو او د هغو د ګټو لپاره دي.

په جرابو باندې مسح کول جواز لري؛ ځکه چې لرې کول یې ستونزمن دي، او په دې کې د سپکو او درنو جورابو ترمنځ هیڅ توپیر نشته، او نه هم د سوري شویو جورابو او سالمو جورابو ترمنځ هېڅ توپیر شته، مهمه خبره دا ده چې تر هغه چې د موزو نوم پاتې وي؛ په هغې باندې مسح کول جائز دي.

پوښتنه (۲): یو سړي تیمم وکړ او موزې یې پښو کړې، که اوبه ومومي، ایا کولای شي په موزو باندې مسح وکړي، په داسې حال کې چې موزې یې پاکې پښو کړې وي؟

ځواب: که طهارت د تیمم طهارت وي، نو هغه نشي کولای چې په موزو باندې مسح وکړي؛ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دې حدیث له مخې:

«فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ»،

«ما پاکې پښو کړې وې»[1]، او د تیمم طهارت د پښو سره تړاو نلري، بلکې یوازې د مخ او لاسونو سره تړاو لري.

په دې اساس، که چېرې یو سړی اوبه ونه لري، یا ناروغ وي او د اودس لپاره اوبه ونه شي کارولی، نو هغه دې موزې په پښو کړي، که څه هم بې اودسه وي، او دا موزې به یې په پښو کې وي (بې له ټاکل شوې مودې) تر څو چې اوبه ومومي که اوبه و نه لري، یا د ناروغۍ څخه روغ شي که ناروغ وي؛ ځکه چې پښه د تیمم پاکوالي سره هېڅ تړاو نه لري.

پوښتنه (3): ایا نیت کول واجب دی؟ په دې معنی چې: که چېرې یو سړی وغواړي چې جرابې یا موزې په پښو کړي، او نیت ولري چې هغو باندې مسح کوي، همدارنګه نیت وکړي چې د مقیم په توګه مسح کوي یا د مسافر په توګه؟ او یا دا چې نیت واجب نه دی؟

ځواب: دلته نیت اړین نه دی؛ ځکه چې دا یو داسې عمل دی چې حکم یې یوازې په شتون پورې تړلی دی، نو دا نیت ته اړتیا نلري، لکه څنګه چې که یو سړی جامه واغوندي، نو ضرور نه ده چې نیت وکړي چې په لمونځ کې به عورت پټوي، په همدې ډول، د موزو په اغوستلو کې نیت ته اړتیا

---

[1] تخریج یې مخکې تېر شوی (مخ: 180).

نشته چې پرې به مسح کوي، او همدارنګه د مودې نیت هم اړین نه دی؛ بلکې، که هغه مسافر وي، نو درې ورځې حق لري، نیت یې کړي وي یا نه، او که مقیم وي؛ نو یوه ورځ او یوه شپه حق لري، نیت یې کړي وي یا نه.

پوښتنه (4): هغه سفر یا مسافه چې په هغه کې درې ورځې (او شپې) پر موزو باندې مسح کول جواز لري، کوم دي؟

ځواب: هغه سفر چې په هغه کې د لمونځ لنډول جواز لري، هماغه سفر دی چې مسح په کې درې ورځې او شپې دوام کوي؛ ځکه چې د صفوان بن عسال رضي الله عنه حدیث مو چې ذکر کړ، وايي:

«إِذَا كُنَّا سَفْرًا»،

(کله چې موږ په سفر کې وو)[1]، نو تر هغه چې یو سړی مسافر وي او لمونځ لنډوي؛ درې ورځې مسح کولای شي.

پوښتنه (5): که چېرې مسافر ورسېد (مقیم شو)، یا مقیم مسافر شو، او مسح یې پیل کړې وي، نو د هغه موده څنګه حسابیږي؟

ځواب: که د اقامت په حالت کې یې مسح پیل کړې وي، بیا مسافر شي، نو د مسافر په توګه به مسح بشپړوي (د راجح قول پر اساس)، او که د سفر په حالت کې یې مسح پیل کړې وي، بیا مقیم شي، نو د مقیم په توګه مسح بشپړوي، دا راجح قول دی.

[1] تخریج یې مخکې ذکر شو، په (20) مخ کې.

ځیني علماء وايي: که چېرې په حضر (اقامت) کې مسح وکړي، بیا مسافر شي، نو د مقیم په توګه مسح بشپړوي؛ خو راجح قول هغه دی چې موږ مخکې وویل؛ ځکه چې دا سړی مخکې له سفر څخه د مسح په موده کې څه وخت تېر کړی، بیا په سفر لاړ شي، نو په حقیقت کې دا د هغو مسافرانو څخه دی چې درې ورځې مسح کولی شي.

پوښتنه (6): یو سړی شک کوي چې مسح یې کله پیل کړې او د مسح وخت په اړه شک لري، نو څه وکړي؟

ځواب: په دې حالت کې د یقین پر بنسټ دې عمل وکړي، که شک ولري: چې ایا د ماسپښین لمونځ لپاره یې مسح کړې او یا د مازدیګر لمونځ لپاره؟ نو د مودې پیل دې د مازدیګر لمونځ څخه وګڼي؛ ځکه چې اصل دا دی چې مسح و نه شي.

د دې قاعدې دلیل «الأَصْلُ بَقَاء مَا كَان عَلَى مَا كَان»: اصل پرېښودل د پخواني شي په خپل حالت دي، او «الأَصْلُ العَدَم»): اصل نشتوالی دی، دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یو سړي شکایت وړاندې شو چې په لمونځ کې د یو شي احساس کوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«لَا يَنْصَرِفْ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا، أَوْ يَجِدَ رِيحًا».

(لمونځ دې نه پرېږدي، تر هغه چې غږ واوري یا بوی احساس کړي)[1].

---

[1] بخاري په کتاب الوضوء، باب لا يتوضأ من الشك حتى يستيقن، شمېره (137)، او مسلم په کتاب الحيض، باب الدليل على أن من تيقن الطهارة ثم شك في الحدث فله أن يصلي بطهارته، شمېره (361) کې روایت کړې، د عبد الله بن زيد رضي الله عنه د حديث څخه.

پوښتنه (۷): يو سړي د مسح کولو وخت له پای ته رسيدو وروسته مسح وکړه، بيا يې لمونځ وکړ، نو د هغه د لمانځه حکم څه دی؟

ځواب: که چېرې د مسح موده پای ته رسېدلې وي (مقيم وي يا مسافر)، او هغه مسح وکړي، نو هغه لمونځ چې په دې طهارت سره يې ادا کړی، باطل دی؛ ځکه چې اودس يې باطل دی؛ ځکه چې د مسح کولو موده يې پای ته رسېدلې ده، نو هغه لپاره اړينه ده چې له سره بشپړ اودس وکړي او خپلې پښې دې هم ووينځي، او هغه لمونځونه يې چې په دې اودس سره کړي او د وخت د ختمېدو وروسته يې پرې مسح کړي ده، بايد بېرته تکرار کړي.

پوښتنه (8): که چېرې يو سړی جرابې وباسي، په داسې حال کې چې اودس ولري، بيا يې جرابې بې له دې چې اودس يې مات شي، بېرته په پښو کړي، ايا پر دې جورابو مسح کول جواز لري؟

ځواب: که جرابې وباسي او بېرته يې واغوندي، په داسې حال کې چې اودس ولري، که دا د هغه لومړی اودس وي (يعنې تر اغوستلو وروسته اودس نه وی مات شوی)، نو پر هغه باندې حرج او ګناه نشته چې جرابې واغوندي، او کله يې چې اودس کاوه هغې باندې دې مسح وکړي.

خو که دا هغه اودس وي چې مخکې په همدې اودس باندې يې پر جرابو مسح کړی وي، نو که جرابې وباسي، بېرته نشي کولای پرې مسح وکړي؛ ځکه چې لازمه ده چې جرابې په داسې اودس سره واغوستل شي چې د اوبو په طهارت سره

وي، نه د مسح په طهارت سره، دا هغه څه دي چې د علماء له ويناو څخه پوهېدل کېږي.

خو که د علماو څخه کوم يو ويلي وي چې که هغه دا په پاکوالي کې تکرار کړي - حتی د مسح په پاکوالي کې - نو هغه کولی شي تر هغه وخته پورې مسح وکړي چې موده يې پاتې وي، نو دا يو قوي قول دی، مګر زه نه پوهيږم چې چا داسې خبره کړي وي، نو هغه څه چې ما د دې قول د ويلو څخه منع کوي دا دي چې ما داسې څوک نه دی ليدلی چې دا يې ويلي وي؛ که چيرې د عالماو څخه کوم يو دا ويلي وي؛ دا زما په نظر سمه ده؛ ځکه چې د مسح کولو پاکوالی بشپړ پاکوالی دی، نو بايد وويل شي چې: که چېرې د مينځلو په طهارت سره ورباندې مسح کولی شي، نو د مسح په طهارت سره هم کولی شي چې مسح وکړي، خو ما هيڅوک نه دي ليدلي چې دا خبره يې کړې وي.

پوښتنه (۹): نو موږ دا نه وايو چې د موزو لرې کول د مسح له باطلونکي څخه دي؟

ځواب: که هغه خپلې موزې وباسي، نو اودس يې نه باطليږي، مګر مسح يې باطليږي، که چيرې هغه بيا واغوندي، او اودس يې مات شي؛ نو هغه بايد خپلې موزې وباسي او خپلې پښې دې ومينځي.

مهمه خبره دا ده چې پوه شو چې موزې يې د طهارت په حالت کې په داسې حال کې اغوستې وي چې خپلې پښې يې مينځلې وي، د هغه څه پر اساس چې موږ د عالمانو له خبرو څخه زده کړي دي.

پوښتنه (۱۰): يو سړی په لومړي ځل په خپلو بوټانو (موزو) مسح کوي، او په دويم ځل يې ليرې کوي، او په خپلو جرابو مسح کوي، ايا د هغه مسح کول صحيح دي، يا بايد خپلې پښې ومينځي؟

ځواب: په دې اړه اختلاف شته. ځينې علماء په دې اند دي چې که يو څوک د دوو موزو څخه پر يوې باندې مسح وکړي - پورتنۍ يا ښکتنۍ - نو حکم يې پر لومړي تطبيقيږي او دويمې ته نه انتقاليږي.

ځينې علماء په دې اند دي چې تر هغه چې موده يې پاتې وي، دويم ته انتقال جواز لري، د مثال په توګه: که هغه په بوټانو (موزو) مسح وکړي، بيا يې وباسي، او غواړي چې اودس وکړي: هغه کولی شي په جرابو مسح وکړي، کوم چې جرابې دي، د راجح قول پر اساس، همدارنګه، که هغه په جرابو مسح وکړي، بيا يې نورې جرابې يا بوټان (موزې) واغوستې، او په پورتنيو جرابو مسح وکړي؛ د صحيح نظر له مخې، تر هغه چې موده يې پاتې وي، په دې کې هيڅ حرج نشته، خو موده د لومړنۍ په مسح کولو شمېرل کيږي، نه د دويمي په مسح کولو سره.

پوښتنه (۱۱): خلک ډېری وخت پوښتنه کوي چې صحيح مسح څنګه ده او د مسح ځای کوم دی؟

ځواب: د مسح طريقه داده چې لاس د پښې د ګوتو له څوکو څخه تر پنډويو پورې يوازې کش کړي، يعنی د موزو پورتنۍ برخه مسح کيږي، مسح بايد په دواړو لاسونو سره په دواړو پښو باندې په يو وخت کې ترسره شي، په دې معنی چې په

ښي لاس به ښئ پښنه مسح کړي، او په کيڼ (چپ) لاس به په عين وخت کې چپه پښنه مسح کړي، لکه څنګه چې غوږونه مسح کيږي؛ ځکه چې دا د سنت ظاهري معنى ده. د مغيره بن شعبه رضي الله عنه د وينا له مخې: ( نو په دواړو يې مسح وکړه)[1]، دا يې ونه ويل چې: هغه په ښي لاس يې پيل وکړ، بلکې ويې ويل: "هغه پر هغو باندې مسح وکړه" نو د سنت ظاهري معنى هم دا ده، هو، که فرض شي چې د هغه يو لاس کار نه کوي، نو هغه به د چپې پښې څخه مخکې د ښئ پښې څخه پيل وکړي.

ډيرى خلک په دواړو لاسونو ښئ پښنه مسح کوي، او په دواړو لاسونو چپه پښنه مسح کوي، دا تر هغه ځايه چې زه پوهيږم هيڅ اساس نلري، بلکې علماء وايي: سړى بايد په ښي لاس ښئ پښنه مسح کړي او په چپ لاس چپه پښنه مسح کړي.

پوښتنه (12): موږ داسې کسان ليدلي چې له پاسه او ښکته څخه مسح کوي، نو د دغو کسانو مسح څه حکم لري؟ او د دوى لمونځ څه حکم لري؟

ځواب: د دوى لمونځ صحيح دى، او د دوى اودس هم صحيح دى، خو هغوى ته بايد وويل شي چې د پښې د ښکته برخې مسح کول له سنت څخه نه دي، په سننو کې د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه له حديث څخه راغلي: "که چيرې دين پر نظر ولاړ واى، نو د موزو ښکته برخه به د پورته برخې په پرتله د مسح کولو وړ وه، خو ما رسول الله

---

[1] تخريج يې مخکې ذکر شو، په (180) مخ کې.

صلى الله عليه وسلم وليد چې د خپلو موزو پورته برخه یې مسح کړه"[1]، دا حدیث ښیي چې یوازې د پښې د پاسنۍ برخې مسح کول مشروع دي.

پوښتنه (13): د ابن عباس رضي الله عنهما د دې قول توجیه څه ده: "رسول (صلى الله علیه وسلم) د مائدې سورت څخه وروسته مسح نه ده کړې"[2]، او هغه حدیث چې له علي (رضي الله عنه) څخه روایت شوی: "کتاب (قرآن) د موزو مسحې څخه مخکې دی"[3]؟

ځواب: زه نه پوهیږم: ایا دا د دوی څخه صحیح نقل دي او که نه؟ ما مخکې یادونه وکړه: چې علي بن ابي طالب رضی الله عنه د هغو کسانو له ډلې څخه و چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه یې د مسح کولو احادیث روایت کړي دي، او د هغه له وفات وروسته یې بیان کړي دي، او هغه یې تشریح کړي چې رسول الله (صلى الله علیه وسلم) دوی لپاره وخت ټاکلی و[4]، او دا په دې دلالت کوي چې د مسح حکم د هغه له نظره د رسول الله (صلى الله علیه وسلم) د وفات وروسته هم ثابت و، او د رسول الله (صلى الله علیه وسلم) د وفات وروسته نسخ (منسوخ کول) امکان نلري.

---

1 ابو داود په کتاب الطهارة، باب کیف المسح؟، شمېره (162) کې نقل کړی.
2 امام احمد په «المسند» (1/ 323) کې نقل کړی.
3 ابن ابي شیبة په «المصنف» (1/ 186) کې نقل کړی، او مطالعه کړه: السنن الکبری للبیهقي (1/ 272).
4 تخریج یې مخکې ذکر شو، په (21) مخ کې.

پوښتنه (14): ایا په موزو د مسح کولو احکام د نارینه وو په څیر د ښځو لپاره هم دي؟ آیا په دې کې کوم توپیر شته؟

ځواب: په دې برخه کې د نارینه او ښځینه وو ترمنځ هیڅ توپیر نشته، او دلته یوه قاعده باید و پیژندل شي، او هغه داده: "اصل دا دی هغه څه چې د نارینه وو لپاره ثابت دي، هغه ښځینه لپاره هم ثابت دی، او څه چې ښځینه لپاره ثابت دی، نارینه لپاره هم ثابت دی، پرته له دې چې د دوی د جلاوالي ثبوت شتون ولري".

پوښتنه (۱۵): د جرابو یا د هغې یوه برخه د لرې کولو حکم څه دی؛ تر څو چې خپله پښه لرې وګروي، یاد خپلې پښې څخه یو څه لرې کول، لکه کوچنۍ تیرې یا ورته بل څه؟

ځواب: که چېرې خپل لاسونه د جرابو لاندې دننه کړي؛ نو په دې کې کوم حرج نشته، خو که جراب وویستل شي، نو په دې صورت کې: که یوه لږه برخه وویستل شي، نو مسح ته زیان نه رسوي، خو که ډېره برخه ویستل شي، چې د پښې ډېره برخه ښکاره شي؛ نو په دې صورت کې راتلونکي کې پر هغو باندې مسح کول باطلوي.

پوښتنه (۱۶): عام خلک په دې باور دي چې موزو باندې یوازې پنځه لمونځونو لپاره مسح کولی شي، او بیا به یې بیا ځلي تکراروي.

ځواب: هو، دا په عامو خلکو کې مشهور دی، دوی فکر کوي چې یوازې پنځه لمونځونه په مسح کېدای شي، خو دا سم نه دی، بلکې مسح ته یوه ورځ او یوه شپه موده ټاکل شوې ده،

په دې معنی چې هغه کولی شي د یوې ورځې او یوې شپې لپاره مسح وکړي، که هغه پنځه لمونځونه کړي وي یا ډېر.

د مودې پیل د مسح کولو څخه دی، لکه څنګه چې موږ مخکې یادونه وکړه، هغه کولای شي لس یا ډېر لمونځونه وکړي، که څوک د دوشنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره موزې واغوندي او د سې شنبې په شپه تر ویده کیدو پورې په اودس کې پاتې شي، بیا د سې شنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره په لومړي ځل په موزو مسح وکړي، نو هغه کولی شي د چهارشنبې په ورځ د سهار تر لمانځه پورې مسح وکړي، نو هغه د دوشنبې په ورځ د سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن لمونځونه په موزو سره ادا کړي دي، دا ټوله موده هغه لپاره نه شمېرل کیږي؛ ځکه چې دا د مسح کولو دمخه ده، او هغه د سې شنبې په ورځ د سهار لمونځ وکړ او مسح یې وکړه، ماسپښین لمونځ یې ادا کړ او مسح یې وکړه، مازدیګر لمونځ یې ادا کړ او مسح یې وکړه، ماښام لمونځ یې وکړ مسح یې وکړه، ماخوستن لمونځ یې ادا کړ او مسح یې وکړه، همدارنګه، هغه کولی شي د چهارشنبې د لمانځه لپاره مسح وکړي که چیرې هغه د مودې له پای ته رسیدو دمخه مسح کړې وي، لکه څنګه چې که هغه د سه شنبې د سهار د لمونځ لپاره په پنځه بجو مسح کړې وي او د چهارشنبې د سهار د لمونځ لپاره په پاو کم پنځه بجو مسح کړي او تر شپې د پنجشنبې د ماخوستن لمونځ پورې په اودس کې پاتې شي، نو هغه په دې اودس سره د چهارشنبې د سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام، او ماخوستن لمونځونه ادا کوي. په دې ډول هغه د موزو له اغوستلو راهیسي پنځلس لمونځونه ادا کړي

دي؛ ځکه چې هغه دا د دوشنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره اغوستي و، او په پاکوالي کې پاتې شو، او د سې شنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره يې تر پنځو بجو پورې مسح نه کوله، او د چهارشنبې په ورځ د سهار د لمانځه لپاره يې په پاو کم پنځه بجو مسح کړې ده، او د ماخوستن د لمانځه تر ادا کولو پورې په اودس کې پاتې شو، نو په دې توګه هغه پنځلس لمونځونه ادا کړي دي.

پوښتنه (۱۷): که چېرې يو کس اودس وکړي او په موزو مسح وکړي، او د مسح په موده کې د ماز ديګر د لمانځه څخه مخکې موزې لرې کړي، ايا هغه لمونځ کولی شي او ايا د هغه لمونځ صحيح دی، يا د هغه اودس د موزو د لرې کولو سره باطلېږي؟

ځواب: د علماوو تر ټولو راجح نظر، چې شيخ الاسلام ابن تيميه او د علماوو يوې ډلې (رحمهم الله) غوره کړی، دا دی چې: د موزو په لرې کولو سره اودس نه باطلېږي[1]، که چېرې يو کس خپلې موزې د اودس په حالت کې لرې کړي په داسې حال کې چې هغې باندې مسح کړې وي، نو د هغه اودس نه باطلېږي، دا ځکه چې کله چې هغه پر موزو مسح کوي، نو طهارت يې د شرعي دليل له مخې بشپړ شوی، او کله چې موزې لرې کړي، نو دا طهارت چې د شرعي دليل له مخې ثابته ده، او پرته له شرعي دليل څخه نه شي باطلېدلی، او هېڅ دليل نشته چې د مسح شوي موزو يا جرابو لرې کول اودس باطلوي، نو په دې اساس د هغه اودس صحيح پاتې کېږي، خو

[1] الفروع (1/ 218).

که چېرې هغه بیا موزې واغوندي او په راتلونکې کې پرې مسح وکړي، نو داسې نه شي کېدای، تر هغه ځایه چې زه د علماوو له قوله پوهېږم.

**پر پګړیو مسح کول:**

پوښتنه (۱۸): ایا پر پګړۍ مسح کول جائز دي؟ او د دې حدود څه دي؟

ځواب: پر پګړۍ باندې مسح کول د سنتو څخه دي چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه ثابت شوي دي، نو پر پګړۍ باندې مسح کول جائز دي، د پګړۍ په ټوله یا پر ډېرې برخې باندې باید مسح وشي، او همدارنګه مستحب ده چې د سر ښکاره برخې لکه ټنډه، د سر اړخونه، او غوږونه هم مسح کړي.

پوښتنه (۱۹): ایا د نارینه شماغ (د سر دسمال) او د ښځې د سر ټیکرى هم د پګړي په حکم کې راځي؟

ځواب: د نارینه شماغ ( د سر دسمال) او خولۍ په هیڅ ډول د پګړۍ په حکم کې نه راځي، خو د ژمي په ورځو کې د سر او غوږونو پوښلو خولۍ اغوستل، چې په لاندې برخه کې غاړې باندې تاو شوی وي، دا د پګړۍ په څیر دي؛ ځکه چې لرې کول یې ګران دي، نو پرې مسح کېدای شي.

او د ښځو په اړه، دوی د امام احمد رحمه الله د مشهور نظر سره سم په خپلو پړوني مسح کولی شي که چېرې دوی خپل

پړوني د خپلو غاړو لاندې تاو کړي وي[1]؛ نو هغې باندې مسح کولی شي، ځکه چې دا د صحابه ښځو رضي الله عنهن څخه نقل شوي دي.

پوښتنه (٢٠): الطُّربُوش (مخصوصه خولۍ) چې د سر پر پورته برخه کې وي او غاړې سره هېڅ تړاو نلري، ایا هغې باندې مسح کېدای شي؟

ځواب: په ظاهره کې، که چېرې د طُّربُوش (مخصوصه خولۍ) لرې کول ګران نه وي، نو مسح کول پرې جائز نه دي؛ ځکه چې په ځينو وجوهاتو له مخې خولۍ سره شباهت لري، او اصل دا دی چې سر بايد مسح شي، تر څو څرګنده شي چې دا هغه څه دي چې مسح پرې کيدی شي.

**په جبيرې (پټۍ پلستر) مسح کول**

پوښتنه (٢١): پر جبيره (پټۍ پلستر) باندې د مسح کولو حکم څه دی او د هر هغه څه چې ورسره ورته والی لري؟ او د کتاب او سنتو څخه يې د مشروعيت دليل څه دی؟

ځواب: لومړی، اړينه ده چې پوه شو چې جبيره (پټۍ يا پلستر) څه ده؟

جبيره (پټۍ پلستر) په اصل کې: هغه څه دي چې مات شوي هډوکي په تړلو او ترميم لپاره کارول کيږي، او د فقهاو په اصطلاح کې، داسې معنا لري: هغه څه چې د طهارت پر ځای د اړتيا له امله ابښودل کيږي، لکه په مات شوي ځای باندې

---

1 الإنصاف مع المقنع والشرح الكبير (1/ 387)، ومنتهى الإرادات مع شرح البهوتي (1/ 122).

جبس (د ګچو پلسټر)، يا د ټيونو پورې پټې، يا د شا د درد له امله، يا نور ورته شيان. پر دوی مسح کول د مينځلو پر ځای کافي دي.

که چېرې فرض کړو چې د اودس کوونکي په لاس د زخم پر سر يوه پټه وي چې اړتيا ورته لري، هغه د مينځلو پر ځای پر هغې مسح کوي، او دا بشپړ پاکوالی دی، په دې معنی چې: که چېرې دا سړی دا جبيره يا پټۍ لرې کړي، نو د هغه طهارت پاتې کېږي او نه باطلېږي؛ ځکه چې دا په شرعي ډول بشپړه شوې ده، او د پټۍ لرې کول هېڅ شرعي دليل نه لري چې طهارت باطلوي.

په جبيره (پټۍ يا پلسټر) کې هېڅ دليل نشته چې تعارض په کې نه وي، بلکې، په هغه کې ضعيف احاديث شته چې ځينو علماوو ورته اشارې کړي، او وايي چې: دغه ځيني ضعيف احاديث هغه د حجت کچې ته لوړوي.

ځينې اهل علم وايي: د هغې د ضعف له امله پرې اعتماد نه کېږي. نو دغه علماء اختلاف لري، ځينې يې وايي: د جبيرې (پټۍ يا پلسټر) د ځای پاکول ساقطېږي، ځکه چې هغه دا نه شي کولی. او ځينو يې وويل: بلکې پرې تيمم وشي او مسح دې و نه شي.

خو قواعدو ته نږدې اقوال – د هغو احاديثو پرته چې په دې اړه راغلي – دا ده چې مسح پرې کېږي، او دغه مسح د تيمم څخه بسنه کوي، نو بيا تيمم ته اړتيا نشته، په دې صورت کې موږ وايو چې: کله د پاکۍ د اندامونو په څه برخه کې زخم وي، نو د هغه لپاره مراتب دي:

لومړی مرتبه: دا چې زخم خلاص وي، او مینځل ورته زیان نه رسوي، نو په دې حالت کې مینځل یې واجب دی.

دویمه مرتبه: دا چې زخم خلاص وي، خو مینځل ورته زیان رسوي خو مسح زیان نه رسوي، نو په دې مرتبه کې مسح واجب ده پرته له مینځلو څخه.

دریيمه مرتبه: دا چې زخم خلاص وي، مینځل او مسح کول ورته زیان رسوي، نو دلته تیمم کولی شي.

څلورمه مرتبه: دا چې زخم په پټۍ یا پلستر یا د هغې په شان بل څه باندې پوښل شوی وي چې ورته اړتیا لري، نو په دې حالت کې پر دغه پوښونکي شي باندې مسح کوي او د غړي د مینځلو څخه بسنه کوي.

پوښتنه (22): آیا په جبیرې (پټۍ یا پلستر) باندې د مسح کولو لپاره شرطونه شته که چېرې د اړتیا څخه زیاته وي؟

ځواب: په جبیرې (پټۍ یا پلستر) باندې مسح نه کیږي مګر د اړتیا په وخت کې، نو باید د اړتیا په اندازه محدوده وي، ضرورت یواځې د درد او زخم ځای نه دی، بلکې هر هغه څه چې د دې پټۍ یا پسلتر د ټینګولو لپاره اړین دي، د ضرورت څخه شمېرل کیږي.

پوښتنه (23): آیا په دې معنا کې لفائف هم شاملیږي، لکه: ګاز (بنداژ) او ورته نور شیان ؟

ځواب: هو، شاملیږي، باید پوه شو چې جبیره (پټۍ یا پلستر) په موزو باندې د مسح کولو په څیر نه دی چې ټاکلې موده ولري، بلکې تر هغه وخته پورې هغه باندې مسح کولای

شي چې اړتیا وي، همدا راز په کوچنیو او لویو حدثونو (بې اودسیو) کې پرې مسح کېږي، د موزو په خلاف چې مخکې یې ذکر وشو، نو هر کله چې غسل وربانديې واجب شي، هغه بانديې باید مسح وکړي، لکه څنګه چې په اودس کې مسح کوي.

پوښتنه (24): د جبیرې (پټۍ یا پلسټر) باندې مسح کول څه ډول ده؟ آیا ټوله جبیره مسح کېږي، یا یوازې یوه برخه یې مسح کېږي؟ په تفصیل سره یې بیان کړئ.

ځواب: هو، ټوله جبیره مسح کېږي، ځکه چې اصل دا دی چې بدل د مبدل حکم لري، تر هغه چې سنت د خلاف حکم نه وي کړی، دلته مسح د مینځلو بدل دی، نو څنګه چې مینځل ټول عضو ته باید شامل وي، همدا ډول مسح هم باید ټولې پټۍ ته شامل وي، خو موزو باندې مسح کول یو رخصت عمل دی، او په سنت کې راغلي چې د هغې د یوې برخې مسح کول هم بسنه کوي.

## دویم فصل: لمونځ

اهمیت او فضیلت یې

د لمونځ طریقه

د سهوې سجده

د تلاوت سجده

د مسافر لمونځ، او د هغه روژه

ناروغي، او هغه څه چې ناروغ ته په کې پاملرنه ضروري ده

ناروغ څنګه ځان پاک کړي، لمونځ وکړي، او روژه ونیسي؟

نفلي لمونځ

دلمانځه منع شوي وختونه

د لمونځ پرېښودونکي حکم

توبه

## لمونځ

* د لمونځ تعریف:

لمونځ د الله تعالی په ځانګړي بڼه عبادت کول دی چې په ولاړه، ناسته، رکوع او سجده کې د الله تعالی په ځانګړي اذکارو سره ترسره کیږي، د لمونځ د ادا کولو دمخه د هغه شرطونو پوره کول ضروري دي لکه: طهارت (پاکوالی)، د عورت پټول، د وخت داخلېدل که چېرې وختي لمونځ (ټاکل شوی لمونځ) وي، او نور شرطونه.

اهمیت او فضیلت یې:

لمونځ: د اسلام د پنځه ګوني ارکانو څخه دویم رکن دی، او د شهادتینو وروسته تر ټولو مهم رکن دی، او هر هغه څوک چې د لمونځ فرضیت څخه منکر وي، کافر شمېرل کیږي، ځکه چې په الله، او د هغه په رسول او د مسلمانانو اجماع یې دروغ ګڼلی دی.

خو څوک چې د لمونځ فرضیت مني، خو په کې سستي کوي او نه یې ادا کوي، نو په دې باره کې علماء اختلاف لري،

خو راجح قول دا دی چې دا ډول کس هم کافر او د اسلام څخه بهر دی.

لمونځ د بنده او د هغه د معبود ترمنځ اړيکه ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى يُنَاجِي رَبَّهُ»،

" يو له تاسو څخه چې لمونځ کوي، نو خپل رب سره مناجات کوي"[1]، او الله تعالی په قدسي حديث کې فرمايي:

«قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ قَالَ اللهُ تَعَالَى: حَمَدَنِي عَبْدِي. وَإِذَا قَالَ: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي. وَإِذَا قَالَ: ﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ﴾ قَالَ: مَجَّدَنِي عَبْدِي. فَإِذَا قَالَ: ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾ قَالَ: هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ. فَإِذَا قَالَ: ﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ، صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾ قَالَ: هَذَا لِعَبْدِي، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ».

"ما لمونځ د ځان او خپل بنده ترمنځ په دوو برخو ويشلی دی، او زما بنده به هغه څه ترلاسه کړي چې هغه يې غواړي، نو کله چې بنده ووايي: ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾، نو الله تعالی وايي: (زما بنده زما ستاينه وکړه) او کله چې هغه ووايي: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾، نو الله تعالی وايي: زما بنده زما ثنا وويله. او کله چې هغه وايي: ﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ﴾، نو هغه تعالی به

---

[1] بخاري په کتاب مواقيت الصلاة، باب المصلي يناجي ربه عزوجل، شمېره (531)، او مسلم په کتاب المساجد، باب النهي عن البصاق في المسجد، شمېره (551) د انس رضي الله عنه د حديث څخه نقل کړي.

وفرمايي: زما بنده زما تمجيد او تعظيم وکړ. بيا کله چې هغه وو ايي: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾، هغه تعالی به وفرمايي: دا زما او زما د بنده ترمنځ ده، او زما بنده به هغه څه ترلاسه کړي چې هغه يې وغواړي. بيا کله چې هغه وو ايي: ﴿ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ، صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ﴾، هغه تعالی به وفرمايي: دا زما د بنده لپاره ده، او زما بنده ته به هغه څه ورکړل شي چې هغه يې غواړي"[1].

او لمونځ د عباداتو يو باغ دی، چې په هغه کې له هرې بڼکلي جوړه شته: تکبير چې په هغه سره لمونځ پيلېږي، او قيام چې په هغه کې لمونځ کوونکی د الله تعالی کلام تلاوت کوي، او رکوع چې په هغه کې خپل رب ته تعظيم کوي، د رکوع نه راپورته کېدل چې پکې د الله پاک له حمد او ثنا څخه ډک وي، او سجده چې پکې د الله پاک په لوړوالي سره تسبيح کوي او دعا کوي، او قعده چې په هغه کې دعا او تشهد ويل کيږي، او په سلام سره پای ته رسيږي.

او لمونځ په سختيو کې مرستندوی، او له بې حيايي او ناوړه کارونو څخه ايسارول کوي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ...﴾

(په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ...) [البقرة:45]، او الله - تعالی - فرمايلي دي:

---

1 مسلم په کتاب الصلاة، باب وجوب قراءة الفاتحة، شمېره (38/395) د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

﴿ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ...﴾

(لوله هغه کتاب چې تا ته وحی کړل شوی دی او لمونځ ترسره کوه، بې شکه لمونځ له بې حیایي او ناوړه کارونو څخه ایسارول کوي...) [العنکبوت:45].

او لمونځ د مؤمنانو لپاره د هغوی په قبرونو او د قیامت په ورځ رڼا ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«الصَّلَاةُ نُورٌ»،

«لمونځ رڼا ده»[1]، او هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا؛ كَانَتْ لَهُ نُورًا، وَبُرْهَانًا، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

«چا چې د لمونځ حفاظت وکړ، د هغه لپاره به په قیامت کې رڼا، دلیل او نجات وي»[2].

او لمونځ د مومنانو خوښي او د هغوی د سترګو یخوالی ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ».

«زما د سترګو یخوالی په لمونځ کې ځای پرځای شوی دی»[3].

او لمونځ ګناهونه له منځه وړي، او ګناهونه رژه وي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

---

1 مسلم په کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، شمېره (223) د ابو مالك الأشعري رضي الله عنه د حدیث څخه نقل کړي.

2 امام أحمد په «المسند» (2/ 169) د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړی.

3 نسائي په کتاب عشرة النساء، باب حب النساء، شمېره (3392)، او احمد (3/ 128) د انس رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړی.

«أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ، يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ- وَسَخِهِ- شَيْءٌ ؟» قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ. قَالَ:«فَكَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا».

«خبر راکړئ چي که ستاسو څخه د يو چا د دروازې په خوله کې يو نهر وي چي هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وايئ چې په هغه به څه خيرى پاتې شي؟» هغوى وويل: نه هيڅ خيرى به يې پاتې نه شي، ويې فرمايل: همدا د پنځه وخته لمونځونو مثال دى، چې الله جل جلاله پرې ګناهونه پاکوي»[1].

او هغه صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ، كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ، مَا لَمْ تُغْشَ الْكَبَائِرُ».

"پنځه وخته لمونځونه، له يوې جمعې څخه تر بلې پورې د دوى تر منځه د ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې له کبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي"[2].

«وَصَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً».

---

1 بخاري په کتاب مواقيت الصلاة، باب الصلوات الخمس کفارة، شمېره (528)، او مسلم په کتاب المساجد، باب المشي إلى الصلاة تمحى به الخطايا، شمېره (667) د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړى.

2 مسلم په کتاب الطهارة، باب الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة مکفرات لما بينهن، شمېره (233) کې د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړى.

"د جماعت لمونځ له يوازي لمانځه څخه اوه ويشت درجې غوره دی". ابن عمر د رسول الله صلَّى الله عليه وسلَّم څخه روايت کړی[1].

ابن مسعود رضي الله عنه وايي: «څوک چې غواړي سبا د الله تعالى سره د مسلمان په توګه ملاقات وکړي، نو هغه دې دا لمونځونه په خپل وخت ادا کړي کله چې ورته بلنه ورکړل کيږي، ځکه چې الله تعالى ستاسو پيغمبر ته د هدايت لارې ټاکلي دي، او دا د هدايت له لارو څخه دي، نو که تاسو په خپلو کورونو کې لمونځ وکړئ، لکه څنګه چې دا متخلف (چې لمونځ په جماعت نه کوي) سړی په خپل کور کې لمونځ کوي، تاسو به د خپل پيغمبر لاره پريښې وي، او که تاسو د خپل پيغمبر لاره پرېږدئ، نو تاسو به ګمراه شئ، او هېڅ داسې کوم سړی نشته چې ځان پاک کړي او په ښه توګه طهارت وکړي، بيا له دې جوماتونو څخه يو ته لاړ شي، مګر دا چې الله تعالى به د هر ګام په بدل کې ورته يوه نيکي وليکي، او يوه درجه به يې لوړه کړي او يوه بدي به يې له منځه يوسي، او موږ نه دي ليدلي چې پرته له څرګند منافق څخه بل څوک له جماعت څخه تخلف وکړي، او داسې هم شوي چې يو سړی به د دوو کسانو په اوږو راوستل شو، ترڅو د جماعت په صف کې ودرول شي»[2].

---

1 بخاري په کتاب الأذان، باب فضل الجماعة، شمېره (645)، او مسلم په کتاب المساجد، باب فضل صلاة الجماعة، شمېره (650) کې نقل کړي.

2 مسلم په کتاب المساجد، باب صلاة الجماعة من سنن الهدى، شمېره (654) کې نقل کړی.

په لمانځه کې خشوع - کوم چې د زړه حضور دی - او په
وخت سره يې ادا کول د برياليتوب او جنت ته د ننوتلو له
لاملونو څخه دي، الله تعالی فرمايي:

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ 1 ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ 2 وَٱلَّذِينَ
هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ 3 وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ 4 وَٱلَّذِينَ
هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ 5 إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ
فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ 6 فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ
7 وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ 8 وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ
صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ 9 أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ 10 ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ
ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ 11﴾

(يقينًا مومنان کامياب شول 1

هغوی چې په خپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي 2

او هغه کسان چې دوی له لغو (خبرو او کارونو) نه مخ
ګرځوونکي دي 3

او هغوی چې د زکات ادا کوونکي دي 4

او هغوی چې د خپل شرم ځايونو حفاظت کوونکي دي 5

مګر له خپلو ښځو او وينځو نه، نو بېشکه دوی (هغوی ته
په ورتلو سره) ملامت کړی شوي نه دي 6

نو هغه څوك چې له دغو نه علاوه غواړي، نو هم دغه
کسان له حده تېرېدونکي دي 7

او هغه چې هغوی د خپلو امانتونو او عهد رعايت کوونکي
دي 8

او هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو مداومت (او حفاظت) کوي 9
هم دغه خلق وارثان دي 10
هغه چې د فردوس وارثان کيږي به، دوی به په هغه کې همېشه وي 11﴾ [المؤمنون: 1-11].

د لمونځ د قبلېدو لپاره دوه اساسي شرطونه دي: لمونځ باید په خالص نیت سره یوازې د الله تعالی د رضا لپاره، او د سنت مطابق ادا شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى»،
«بیشکه صحت د عملونو په نیتونو پورې دی او هر انسان ته به هغه څه حاصل شي چې نیت یې کړی وي»[1]، او فرمایي:
«صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي».
«تاسو داسې لمونځ وکړئ لکه ما چې ګورئ او زه لمونځ کوم»[2].

د لمونځ طریقه:

نو کله چې دا شرطونه پوره شول او د لمانځه لپاره چمتو وي، هغه باید لاندې اعمال ترسره کړي:

۱- لمونځ کوونکی باید خپل ټول بدن قبلې په لور راوګرځوي، پرته له کوږوالي او سر اړولو څخه.

[1] بخاري په کتاب بدء الوحي، باب كيف كان بدء الوحي، شمېره (1)، او مسلم په کتاب الإمارة، باب قوله صلی الله علیه وسلم: «إنما الأعمال بالنية»، شمېره (1907) د عمر بن الخطاب رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړي.
[2] بخاري په کتاب الأذان، باب الأذان للمسافر إذا كانوا جماعة، شمېره (631) د مالك بن الحويرث رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړی.

۲- بیا به د هغه لمونځ نیت وکړي چې غواړي ادا یې کړي، په زړه کې پرته له دې چې نیت په ژبه ووایي.
۳- بیا به تکبیر تحریمه ووایي، او وایي چې: «اللَّهُ أَكْبَر»، خپل لاسونه دې د اوږو برابر، او یا د غوږونو تر نرمۍ، او یا د هغو تر خانګو برابر د تکبیر پر مهال پورته کړي.
۴- بیا به خپل ښی لاس د کیڼ (چپ) لاس شا باندې د سینې پر سر ږدي.
۵- بیا به په دې سره پیل کړي، او ووایي چې:
«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ».
«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ»[1].
ژباړه: اې الله زما او زما د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختیځ له لویدیځ څخه لرې کړی دی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپینه جامه چې له خیرو څخه پاکیږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ږلۍ سره ومینځه.
۶- او یا دا دې ووایي:

[1] دا هغه څه دي چې بخاري په كتاب الأذان، باب ما يقول بعد التكبير، شمېره (744)، او مسلم په كتاب المساجد، باب ما يقول بين تكبيرة الإحرام والقراءة، شمېره (598) د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړي.

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ»[1].

ژباړه: اې الله! پاکي او ستاينې يواځې تا لره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته.

٧- بيا به اعوذ بالله ووايي، داسې دې ووايي: «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

ژباړه: زه له رټل شوي شيطان نه په الله تعالى پورې پناه نيسم.

٨- بيا به بسم الله او د فاتحې سورت ولولي، نو وايي:

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ 1 ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ 2 ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ 3 مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ 4 إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ 5 ٱهۡدِنَا

[1] دا هغه څه دي چې ابو داود په كتاب الصلاة، باب من رأى الاستفتاح بـ«سبحانك اللهم وبحمدك»، شمېره (775)، او ترمذي په كتاب الصلاة، باب ما يقول عند افتتاح الصلاة، شمېره (242)، او نسائي په كتاب الافتتاح، باب نوع آخر من الذكر بين افتتاح الصلاة وبين القراءة، شمېره (900)، او ابن ماجه په كتاب إقامة الصلاة، باب افتتاح الصلاة، شمېره (804)، او احمد (3/ 50) د ابو سعيد رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړي. او ابو داود په تېر شوي ځای، شمېره (776)، او ترمذي هم په تېر شوي ځای، شمېره (243)، او ابن ماجه هم په تېر شوي ځای، شمېره (806) د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړي. او مسلم په كتاب الصلاة، باب حجة من قال: لا يجهر بالبسملة، شمېره (399) چې فعل يې عمر بن الخطاب رضي الله عنه باندې موقوف دی، نقل کړی، او سند کې علت هم شته.

ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ 6 صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ
عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ 7﴾
﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ 1

ژباړه: د الله -تعالی- په نامه چې ډېر مهربان او رحم کوونکی دی.

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ 2

ټول (د كمال) صفتونه خاص الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی،

ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ 3

ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی،

مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ 4

د بَدلې د ورځې مالك دی،

إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ 5

مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو،

ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ 6

ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَیَه،

صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ 7﴾

د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی انعام کړی دی؛ چې نه پر هغوی غضب شوی او نه ګمراهان دي. بیا دې ووایي:
(آمین) یعنې: ای الله قبول یې کړه.

٩- بیا دې قران ولولي چې ورته اسان وي، او د سهار په لمانځه کې دې تلاوت اوږدوي.

١٠- بیا دې رکوع وکړي، یعنې: د الله د تعظیم لپاره سر ښکته کړي، او د رکوع پر مهال دې تکبیر ووایي، او لاسونه دې تر اوږو پورې پورته کړي، او سنت دا دي چې: خپله شا اوږده کړي (همواره)، او خپل سر ورسره برابر کړي، او لاسونه پر زنګنونو کېږدي په داسې حال کې چې ګوتې یې یو بل څخه جلا وي.

١١- او په رکوع کې درې ځلې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ»، ووایي، او که دا یې هم اضافه کړ:
«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»،
«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»[1]،
«پاکي ده تالره ای ربه، ته منزه او پاک یې، او تولې ستاینې تا لره دي، ای الله ما ته بخښنه وکړه».
«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»
«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»[2]
"پاکي دې وي پاک ذات لره، د ملایکو او روح (جبریل علیه السلام) رب لره". نو دا به غوره وي.

---

[1] بخاري، په شمېره (761)، او مسلم، په شمېره (484) کې روایت کړی.
[2] مسلم، په شمېره (487)، او ابو داود، په شمېره (872) کې روایت کړی.

۱۲ بیا به خپل سر له رکوع څخه پورته کوي، او وايي: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَه» - الله د هغه چا ستاینه واوریده چې هغه یې وستایه-، او خپل لاسونه به تر اوږو یا د غوږونو په برابرۍ پورته کوي.

۱۳- او مأموم «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَه» نه وايي، مګر د هغې پر ځای وايي چې: «رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ» -زموږ ربه! ټولې ستاینې ستا لپاره دي-.

۱۴- بیا به د رکوع څخه د پورته کېدو وروسته ووايي:

«رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ، وَمِلْءَ الْأَرْضِ، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»،

«رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ، وَمِلْءَ الْأَرْضِ، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»[1]،

اې الله زموږ ربه ستا لره ستاینه ده، د آسمانونو د ډکوالي او د ځمکې د ډکوالي او د هغه څه د ډکوالي په اندازه چې له دوی نه وروسته دي.

وإن زاد: «أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ: لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» فحسن.

که دا یې اضافه کړ غوره ده: «أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ: لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»[2]

---

[1] مسلم، په شمېره (471)، او ابو داود، په شمېره (760) کې روایت کړی.
[2] مسلم، په شمېره (477)، او ابو داود، شمېره (847) کې روایت کړی.

د ثنا او صفت ویونکي باور لري په هغه څه چې بنده دې - وړاندې وویل- او مونږ ټول دې بندګان یو ، منع کوونکی نشته هغه څه لره چې ته یې ورکوې، او ورکوونکی نشته هغه څه لره چې ته یې منعه کوې، او هیڅ شان او شوکت والا ستا په وړاندې ګټه نشي رسولی.

۱۵- بیا لومړی سجده کوي، او د سجدې پر مهال وایي: الله أکبر "الله لوی دی" او په اوو غړو دې سجده وکړي:

تندی سره د پوزې، دواړه لاسونه، دواړه زنګنونه، د دواړو پښو سرونه، او خپلې متې به له اړخونو څخه لرې ساتي، څنګلي به په ځمکه نه خپروي، او د ګوتو سرونه به قبلې ته مخامخ کوي.

۱۶- او په سجده کې به درې ځلې ووایي: «سُبْحَانَ رَبِّيَ الَأعْلَى» «پاکي بیانوم د خپل رب چې ډېر اوچت دی»، او که دا یې اضافه کړ:

«سُبْحَانَكَ الْلَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، الْلَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»،

«سُبْحَانَكَ الْلَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، الْلَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»[1]،

(اې زمونږ ربه تا لره پاکي ده، او ټولې ستاینې تا لره دي، اې الله ما ته بخښنه وکړه).

«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»

«سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»[2]

"پاکي دې وي پاک ذات لره، د ملایکو او روح (جبریل علیه السلام) رب لره". نو دا به غوره وي.

---

1 بخاري، په شمېره (761)، او مسلم، په شمېره (484) کې روایت کړی.
2 مسلم، په شمېره (487)، او ابو داود، په شمېره (872) کې روایت کړی.

۱۷- بیا له سجدې څخه سر پورته کړي او وايي: «اللَّهُ أَكْبَر» (الله لوی دی).

۱۸- بیا د دواړو سجدو په مینځ کې په چپه پښه کښیني، ښی پښه ودروي، خپل ښی لاس د خپل ښی پښې په ورون (زنګون) ته نږدې ږدي، او د ښي لاس سلطانۍ او خچه (څلورمه او پنځمه) ګوته کلکې نیسی، غټه او منځنۍ ګوتې سره حلقه کوي، او د دعا په وخت کې د شهادت ګوتې سره اشاره کوي، او خپل کیڼ لاس د ګوتو په غوړولو سره په چپ ورون ږدي په هغه ځای کې چې زنګون ته نږدی دی.

۱۹- د دوو سجدو تر منځ د ناستې په وخت کې وايي:

«رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي».

«رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي»[1].

" ای ربه، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته لارښوونه وکړه، ما ته روزي راکړه، زما په زړه پټی ولګوه، او زما حفاظت وکړي".

۲۰- بیا الله تعالی ته په خشوع سره دویمه سجده کوي لکه د لومړۍ سجدې په څېر یې چې څه ویلي او کړي و، او د سجدې پر مهال تکبیر وايي.

۲۱- بیا له دویمې سجدې څخه پاڅیږي او وايي: الله أکبر «الله لوی دی» او دویم رکعت لکه د لومړي رکعت په څیر

---

[1] مسلم، په شمېره (2697)، او ابو داود، په شمېره (850) کې روایت کړی.

اداء کوي، مګر دا چې په دویم رکعت کې استفتاح (د پیل دعاګانې) نه وايي.

۲۲- بیا د دویم رکعت له پای ته رسیدو وروسته کښیني او وايي: الله اکبر، «الله لوی دی» او کښیني څرنګه چې د دوو سجدو په منځ کې ناست و.

۲۳- او په دې ناسته کې تشهد وايي، او وايي چې: «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».

«ټول ژبني، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا اې پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺصلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی.

یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ رحمت و وروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایلی شوی او لوي یې. یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ

برکتونه و وروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي يې.

زه د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنو او د دجال له فتنو څخه په الله پناه غواړم».

۲۴- بيا له خپل رب څخه د دنيا او آخرت د خير غوښتنه کوي.

۲۵- بيا ښي اړخ ته سلام اړوي وايي: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ»، او چپ طرف ته هم همداسې.

۲۶ – که لمونځ درې يا څلور رکعتي وي، د لومړي تشهد په پای کې «أشهد أن لا إله إلا الله، و أشهد أن محمداً عبده ورسوله».

يعنی زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی» بايد ودريږي.

۲۷- بيا پاڅيږي او وايي: الله أکبر «الله لوی دی» او په دې وخت کې د اوږو پورې لاسونه پورته کوي.

۲۸- بيا به خپل پاتې لمونځ لکه د دويم رکعت په څېر ادا کوي، خو د فاتحې په قرائت باندې بايد بسنه وکړي.

۲۹ – بيا به په متورک شکل کښيني نو خپله ښۍ پښه دروي او چپه پښه به له ښۍ پښې د پونډۍ لاندې تېروي او خپل مقعد به په ځمکه نښلوی، او لاسونه به په ورنو ږدی په کومه طريقه چې په لومړي تشهد کې ايښي وو.

۳۰ – په دې ناسته کې ټول تشهد لوستل کېږي.

۳۱- بیا ښي اړخ ته سلام اړوي وايي: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰه» او چپ طرف ته هم همداسې.

* په لمونځ کې مکروه څیزونه:

۱- مکروه دي په لمانځه کې: د سر اړول یا سترګو اړول، اما د اسمان په لور د سترګو پورته کول؛ حرام دي.

۲- په لمانځه کې مکروه دي: عبث او پرته له ضرورت څخه حرکت کول.

۳- په لمانځه کې مکروه دي: داسې شیان له ځان سره لرل چې ذهن مشغولوي، لکه درانه شیان، یا پام اړونکي رنګین څیز.

۴- په لمانځه کې مکروه دي: لاسونه په خصر (شا) باندې کېښودل.

* د لمونځ باطلونکي څیزونه:

1- په قصد سره خبرې کول، که څه هم لږ وي.

2- د قبلې څخه د ټول بدن انحراف.

3- د مقعد څخه د باد وتل، او هر هغه عمل چې اودس یا غسل ایجابوي.

4- د ضرورت پرته ډېر او پرله پسې حرکتونه.

5- خندا، که څه هم لږ وي.

6- په قصد سره په لمونځ کې رکوع، سجده، قیام، او یا قعده زیاتول.

7- په قصد سره د امام مخکې حرکت کول.

8- هغه جامې چې د بدن پوستکي ښکاره کوي (لکه څرنګه چې په راتلونکي ځواب کې راغلی دی):

عاليقدر شيخ/ محمد بن صالح العثيمين.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، هيله لرم دې پوښتنې ته ځواب راکړئ:

ډېری خلک په نازکو جامو کې لمونځ کوي چې د بدن پوستکی يې ښکاري، او د دې جامو لاندې لنډ پرتوګ اغوندي چې د ورنو نيمايي ته نه رسيږي، چې د ورنو نيمايي برخه د جامو تر شا ښکاري، د دې خلکو د لمونځ حکم څه دی؟

وعليكم السَّلام ورحمة الله وبركاته.

د دې خلکو د لمانځه حکم د هغه چا د حکم په څير دی چې پرته له جامو په لنډو جامو لمونځ کړی وي؛ ځکه چې شفافې جامې چې د پوستکي ښودنه کوي، ستر او پوښښ کوونکي نه دي، د دې جامو شتون د نه شتون په څير دی، او د دې پر اساس، د دوی لمونځ د علماوو د خورا سم نظر له مخې، صحيح نه دی، چې د امام احمد - رحمه الله - په مذهب کې مشهور نظر دی -[1]، او دا ځکه چې د لمونځ کونکي لپاره دا واجب ده چې د نوم او زنګون ترمنځ ځای پټ وساتي، او دا د الله تعال هغه ټيټه اندازه د اطاعت ده چې تر لاسه کيدی شي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ...﴾

---

1 الإنصاف مع المقنع والشرح الكبير (3/ 200)، منتهى الإرادات مع شرح البهوتي (1/ 298).

(اې د آدم اولادې! د هر عبادت په وخت کې مو خپل د ښکلا لباس واخلئ...) [الأعراف:31].

دوی باید له دوو کارونو څخه یو وکړي: یا داسې پتلون یا پرتوګ واغوندي چې د نوم او زنګون تر منځ برخه وپوښي، یا د دې پتلون یا پرتوګ دپاسه داسې پلنې جامې واغوندي چې پوستکی ښکاره نه کړي.

په پوښتنه کې ذکر شوی عمل غلط او خطرناک دی، نو لازم ده چې الله تعالی ته توبه وکړي او په لمونځ کې د پښولو وړ برخه په بشپړه توګه پټه کړي.

الله تعالی څخه ځان او ټولو مسلمانانو ته د هدایت او د هغه د رضایت د توفیق غوښتنه کوو؛ بېشکه هغه جواد او کریم ذات دی.

لیکنه یې کړې ده

محمد الصالح العثیمین

په ۵ د رمضان کال ۱۴۰۸ هجري

د فرض لمونځ او د لمونځ له سلام څخه وروسته وارد شوي اذکار

باید ووایي:

«أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ».

«أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ»[1].

(زه له الله څخه بخښنه غواړم، زه له الله څخه بخښنه غواړم، زه له الله څخه بخښنه غواړم، ای الله! ته سلام يې، او سلام هم له تا څخه دی، ته برکتناک يې، ای د جلال او اکرام خاونده!"

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاَللَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ، وَلَهُ الْفَضْلُ، وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ».

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاَللَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ، وَلَهُ الْفَضْلُ، وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ»[2].

"له الله پرته بل معبود نشته، يوازينی، بې شريکه دی، پاچايي د هغه ده او ستاينه همغه لره ده، او هغه په هر څه قادر دی، نشته له بدۍ څخه ګرځېدل او په نيکۍ توفيق ورکول مګر د الله په مدد، د الله پرته بل معبود نشته، او موږ د بل چا عبادت نه کوو مګر د لوی الله، الله لره لورينه او غوره والی او نيکه ستاينه ده، نشته بل معبود پرته د لوی الله څخه، هغه ته په دين کې مخلص يو، که څه هم کافران يې بد ګڼي.

1 مسلم، په شمېره (591)، او ابو داود، په شمېره (1512) کې روايت کړي.
2 مسلم، په شمېره (594)، او نسائي، په شمېره (1340) کې روايت کړی.

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ».

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»[1].

- له الله پرته بل معبود نشته، یوازی، بې شریکه دی، هغه لره پاچاهي ده او هغه لره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، ای الله! هر څه چې ورکوې څوک یې مخه نشي نیولی، او هر څه چې له چا څخه منع کوې څوک یې نشي ور کولی. فایده نه شي ورکولای خاوند د شرافت او مرتبې ته ستا د عذاب په مقابل کې شرافت او مرتبه د هغه.

او په هغه څه باندې پاملرنه وشي چې په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت وي د تسبیح، تحمید او تکبیر څخه، او دا په څو روایتونو باندې ثابت دی، خو غوره داده چې کله دا ذکر وویل شي او کله بل ذکر.

لومړی: دا چې ووایي:

«سُبْحَانَ الله» (۳۳ ځلې)، "الله پاک دی"، «الْحَمْدُ لِلَّهِ» (۳۳ ځلې)

"ټول ستاینه د الله لپاره ده"، «اللهُ أَكْبَرُ» (۳۳ ځلې)"الله تر هر شي لوی دی"، او په پای کې دې ووایي:

---

1 بخاري، په شمېره (6862)، او مسلم، په شمېره (593) کې روایت کړی.

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».
«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[1].
"له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی".

دويم: دا چې ووايي:

«سُبْحَانَ اللهِ» (۳۳ ځلې)، «الْحَمْدُ لِلَّهِ» (۳۳ ځلې)، «اللهُ أَكْبَرُ» (۳۴ ځلې)[2].

دريم: دا چې ووايي:

الثالث: أن يقول: «سُبْحَانَ اللهِ» لس ځلې، او «الْحَمْدُ لِلَّهِ» لس ځلې، او «اللهُ أَكْبَرُ» لس ځلې[3].

---

1 مسلم په کتاب المساجد، باب استحباب الذکر بعد الصلاة، شمېره (597) کې د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

2 مسلم په کتاب المساجد، باب استحباب الذکر بعد الصلاة، شمېره (596) د کعب بن عجرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

3 بخاري په کتاب الدعوات، باب الدعاء بعد الصلاة، شمېره (6329) کې د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړي. همدارنګه ابو داود په کتاب الأدب، باب في التسبيح عند النوم، شمېره (5065)، او ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في التسبيح والتکبير والتحميد عند المنام، شمېره (3410)، او نسائي په کتاب السهو، باب عدد التسبيح بعد التسليم، شمېره (1349)، او احمد (2/ 160) د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما له حديث نقل کړی.

ځلورم: دا چې ووايي: «سُبْحَانَ الله، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ»، (الله پاک دی، او ټوله ستاینه الله لره ده، او الله تر هر شي لوی دی)، پنځه ویشت ځلې[1].

او اړینه ده چې آیت کرسي هم تلاوت کړي، او همدارنګه

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ 1﴾

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿1﴾

(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی.

او

﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ 1﴾

﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ 1﴾

(اې نبي) ته ووایه: زه په رب د سبا پورې پناه نیسم. او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ 1﴾

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ 1﴾

(ای نبي) ته ووایه: زه د خلقو په رب پورې پناه نیسم.

---

[1] ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في التسبيح والتكبير والتحميد عند المنام، شمېره (3413)، او نسائي په کتاب السهو، باب نوع آخر من عدد التسبيح، شمېره (1351)، او احمد (5/ 184) د زید بن ثابت رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړي. او همدارنګه نسائي په کتاب السهو، باب نوع آخر من عدد التسبيح، شمېره (1352) د ابن عمر رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړی.

**د سهو سجدې احکام**

د سهو سجدې درې لاملونه دي: زیاتوالی، کموالی، او شک.

زیاتوالی:

بېلګه: دا چې یو څوک په یوه رکعت کې دوه ځله رکوع وکړي، یا درې ځله سجده وکړي، یا په څلور رکعته لمونځ کې پنځم رکعت لپاره ودرېږي، بیا ور یاد شي، او بېرته وګرځي.

که د سهوې سجده د زیاتوالي له امله وي، نو د سلام اړولو وروسته ترسره کېږي، داسې چې تشهد او سلام واړوي، او بیا دوه سجدې ترسره کړي، او سلام دې واړوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم همدا ډول وکړ، کله چې پنځه رکعته لمونځ یې ادا کړ، خلکو د پنځه رکعت لمونځ په هکله هغه ته یادونه وکړه، نو هغه صلی الله علیه وسلم د سلام اړولو وروسته یې دوه سجدې وکړې[1].

دا باید ونه ویل شي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سلام اړولو وروسته سجده کړې، دلته اړینه خبره دا ده چې هغه د سلام اړولو مخکې خبر نه و، او قضیه همداسې وه، خو موږ وایو چې: که چیرې حکم د هغه له کړنو څخه توپیر درلودای، نو هغه (صلی الله علیه وسلم) به هغوی ته ویلي وای: که تاسو د سلام اړولو دمخه په زیاتوالي باندې خبر وئ، نو د سلام

---

1 بخاري په کتاب الصلاة، باب ما جاء في القبلة، شمېره (404)، او مسلم په کتاب المساجد، باب السهو في الصلاة والسجود له، شمېره (572) د ابن مسعود رضي الله عنه له حدیث نقل کړی.

اړولو دمخه سجده وکړئ. نو کله چې هغه خبره په همدې ډول تایید کړه، نو معلومه شوه چې د زیاتوالي سجده سهو باید د سلام اړولو څخه وروسته وي.

په دې باندې دا دلالت کوي: چې کله پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ماسپښین یا ماز دیګر د لمانځه دوه رکعته وروسته سلام واړول، او بیا خلکو ورته یادونه وکړه، نو هغه خپل لمونځ بشپړ کړ، بیا یې سلام واړول، بیا یې دوه سجدې وکړې، بیا یې سلام واړول[1]، دا ځکه چې د لمانځه پر مهال سلام اړول یو اضافه عمل دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د سلام اړولو وروسته د هغې لپاره سجده وکړه.

او لکه څرنګه چې دا د اثر سره مطابقت لری همدارنګه د نظر سره هم مطابقت لري، نو که لمونځ کې زیاتوالی راشي، او مونږ وویل: د سهوه سجده باید مخکې له سلام اړولو څخه ترسره شي، په لمونځ کې به دوه زیاتوالی راشي. او که مونږ وواېو: د سلام اړولو وروسته دې سجده وکړي، په لمونځ کې به یوه سهوه راشي.

کموالی:

---

1 بخاري په کتاب الصلاة، باب تشبيك الأصابع في المسجد، شمېره (482)، او مسلم په کتاب المساجد، باب السهو في الصلاة والسجود له، شمېره (573) کې د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړي. همدارنګه مسلم په تېر شوي ځای کې په شمېره (574) د عمران بن حصين رضي الله عنهما له حديث څخه نقل کړی، مګر دا چې هغه وويل: «له درې رکعتونو وروسته يې سلام وويل».

دا د سلام اړولو څخه مخکې د هغه سجده ده، لکه: که چیرې هغه د لومړي تشهد څخه په هیره سره پورته شي، یا که هغه په سجده کې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى» ویل هیر کړي، یا که هغه په رکوع کې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ» ویل هیر کړي، نو هغه د سلام اړولو څخه مخکې باید سجده وکړي؛ ځکه چې لمونځ د فرض د پرېښودو له امله نیمګړی دی، نو حکمت دا و چې د سلام اړولو دمخه د هېرېدو له امله باید سجده وکړي، ترڅو نیمګړتیا پوره کړي مخکې له دې چې لمونځ څخه ووځي.

دلیل یې د عبد الله بن بحینه حدیث دی چې،

«أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِمُ الظُّهْرَ، فَقَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَلَمْ يَجْلِسْ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيمَهُ، كَبَّرَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ».

"رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته د ماسپښین لمونځ ادا کړ، له دوو رکعتونو وروسته پاڅېد او کښېنه ناست، کله چې هغه لمونځ پای ته ورساوه او خلکو د سلام اړولو انتظار کاوه، هغه صلی الله علیه وسلم په ناست حالت کې تکبیر ووایه، بیا یې دوه ځلې سجده وکړه، بیا یې سلام واړول"[1]

په زیاتوالي او کموالي کې شک کول:

که شک یې وکړ: چې ایا هغه څلور رکعت کړي یا درې رکعتونه؟ نو دا دوه حالت لري:

---

[1] بخاري په کتاب الأذان، باب من لم یر التشهد الأول واجبًا، شمېره (829)، او مسلم په کتاب المساجد، باب السهو في الصلاة والسجود له، شمېره (570) کې نقل کړي.

لومړنی حالت: که چېرې يو له دوو څيزونو باندې ګمان وکړي: يا په زياتوالي يا په کموالي. نو د خپل قوي ګمان پر بنسټ دې عمل وکړي، او د سلام اړولو وروسته دې دوه سجدې وکړي، لکه څرنګه چې د ابن مسعود رضي الله عنه په حديث کې راغلي دي:

«إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ»

"که په تاسو کې يو څوک د خپل لمانځه په اړه شک وکړي او نه پوهيږي چې څو رکعته (لمونځ) يې کړی؛ درې که څلور رکعته، نو شک دې لرې کړي او په هغه څه دې باور وکړي چې يقيني وي، بيا دې له سلام اړولو مخکې دوه سجدې وکړي" دا هغه څه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي، يا دې ته ورته معنا سره[1].

دويم حالت: که چېرې چاته په زياتوالي يا کموالي که شک پيدا شي پرته له دې چې کوم خوا ته ترجيح ورکړي، نو هغه بايد په هغه څه باندې تکيه وکړي چې هغه ياندې يقين لري - کوم چې لږ دی - او بيا يې د هغې پر بنسټ بشپړ کړي، بيا بايد د سلام اړولو دمخه دوه سجدې وکړي، سنت په دې ډول له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه راغلي[2].

---

1 بخاري په کتاب الصلاة، باب التوجه إلى القبلة حيث كان، شمېره (401)، او مسلم په کتاب المساجد، باب السهو في الصلاة والسجود له، شمېره (572) د ابن مسعود رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

2 مسلم په کتاب المساجد، باب السهو في الصلاة والسجود له، شمېره (571) د ابو سعيد رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

* د سجدې سهوې له احکامو څخه:

۱- که لمونځ کوونکی په قصد سره د لمونځ د بشپړیدو څخه مخکې سلام واړوي؛ نو هغه لمونځ باطل دی.

۲- که لمونځ کوونکی په قصد سره په خپل لمونځ کې قیام، قعود، رکوع، یا سجده زیاته کړي؛ نو هغه لمونځ باطل دی.

۳- که لمونځ کوونکی د لمونځ له ارکانو څخه یو رکن پریږدي: که تکبیر تحریمه وي؛ که په عمد سره وي یا په سهوه، د هغه لمونځ صحیح نه دی، ځکه اصلا لمونځ یې نه دی پیل کړی، او که پریښودل شوی رکن پرته د تکبیر تحریمه څخه وي، نو که په قصد سره یې پرېښی وي، لمونځ یې باطل دی.

۴- که لمونځ کوونکی په قصد سره د لمونځ له واجباتو څخه یو واجب پریږدي؛ نو هغه لمونځ باطل دی.

۵- که د سجده سهوه د سلام اړولو څخه وروسته وي؛ نو اړینه ده چې د سجدو وروسته بیا یو ځل سلام واړول شي.

د سجدې سهوې د احکامو لنډیز:

مسئله/ ۱- د لمونځ د بشپړېدو دمخه ناڅاپي سلام اړول

که چېرې لمونځ کوونکی د هیریدو له مخې د لمونځ د بشپړېدو دمخه سلام واړوي

حالت یې/ که ډېر وخت وروسته ور یاد شي؛ نو لمونځ به بیا له سره پیلوي.

که لږ وخت وروسته ور یاد شي -لکه پنځه دقیقې- نو پاتې رکعت به بشپړوي، بیا به سلام واړوي.

د سجدې سهوې موقعیت/ د سلام اړولو وروسته به دوه سجدې کوي، او دویم ځل به بیا سلام واړوي.

****

مسئله/ ۲- په لمونځ کې زیاتوالی

که چېرې لمونځ کوونکی قیام، قعده، رکوع، یا سجده زیاته کړي

حالت یې/ که د زیاتوالي وروسته ور یاد شي؛ یوازې د سهوې لپاره دې دوه سجدې وکړي.

او که د زیاتوالي پر مهال ور یاد شي؛ نو فوراً له زیاتوالي څخه دې رجوع وکړي.

د سجدې سهوې موقعیت/ د سلام اړولو وروسته دې دوه سجدې وکړي، او دویم ځل لپاره دې بل سلام واړوي.

****

مسئله/ ۳- د ارکانو پرېښودل که چېرې لمونځ کوونکی د هیریدو له مخې د لمونځ له ارکانو څخه یو رکن پرېږدي، پرته له تکبیر تحریمه

حالت یې/ که ځای یې راتلونکي رکعت پورې رسېدلی وي؛ هغه رکعت چې یو رکن یې پرېښودل شوی باطلېږي، او راتلونکي رکعت د هغې ځای نیسي.

که ځای یې راتلونکي رکعت پورې نه وي رسېدلی؛ باید پرېښودل شوی رکن ځای ته بیرته وګرځي، پاتې رکن او د هغې وروسته اعمال دې بشپړ کړي. د سهو سجدې موقعیت:

په دواړو حالتونو کې دې د سلام اړولو وروسته دوه سجدې ترسره کړي.

****

مسئله/ ۴- په رکعتونو کې شک

که چېرې د رکعتونو په شمېر کې شک وکړي: چې ایا دوه رکعته یې ادا کړی که درې رکعته؟ نو دا دوه حالت لري.

حالت یې/ لومړی حالت: که یو خوا باندې یقین ولري؛ نو په راجح او یقیني کار باندې باید عمل وکړي، او د یقین پر اساس دې خپل لمونځ بشپړ کړي، او سلام دې واړوي.

دویم حالت: که هیڅ خوا ورته یقیني نه وي؛ د یقین پر اساس دې عمل وکړي، چې هغه لږ دی، او په همدې لږ سره دې خپل لمونځ بشپړ کړي.

د سجدې موقعیت/ په لومړي حالت کې دې د سلام اړولو څخه وروسته د سهوې سجده وکړي.

دویم حالت کې د سهوې سجده دې مخکې له سلام اړولو څخه ترسره کړي.

****

مسئله/ ۵- د لومړي تشهد د هېرېدو له امله

او د واجباتو حکم د لومړي تشهد حکم دی.

حالت یې/ که د قیام په حالت کې ور یاد شي (په بشپړه توګه ولاړ شوی وي)؛ نو خپل لمونځ ته دې دوام ورکړي، او تشهد لپاره دې نه راګرځي.

که د پاڅېدو په حالت کې، او مخکې له بشپړ ولاړېدو څخه ور یاد شو، نو هغه دې بېرته وګرځي او کښیني، تشهد دې وکړي او خپل لمونځ دې بشپړ کړي.

که چیرې مخکې له دې چې ورونونه یې له پوندېو څخه پورته شي ور یاد شو؛ نو هغه باید کښېني، تشهد دې ووايي، بیا دې خپل لمونځ بشپړ کړي، او سجده سهوه دې نه کوي؛ ځکه چې هغه نه څه زیات کړي او نه یې کم کړي.

د سجدې موقعیت/ مخکې له سلام اړولو څخه دې سجده سهو ترسره کړي.

### *د تلاوت سجده*

سبب یې: دا چې یو څوک د قرآن کریم په تلاوت کولو سره د سجدې آیت باندې تېر شي، او په قرآن کریم کې د سجدو آیاتونه او ځایونه معلوم دي، او د مصحفونو په حاشیه کې په نښه شوي دي، کله چې یو څوک د سجدې پر آیت باندې تېر شي، نو هغه باندې لازم ده چې د الله تعالی لپاره سجده وکړي؛ حتی ځینو علماو ویلي دي: چې د تلاوت سجده واجبه ده. خو صحیح قول دا دی چې واجبه نه ده؛ ځکه چې امیرالمؤمنین عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) یو ځل د جمعې په خطبه کې د سجدې آیت په نحل سورت کې تلاوت کړ او سجده یې وکړه، بل ځلي بیا په بله جمعه کې همدا آیت یې تلاوت کړ، خو سجده یې ونه کړه، هغه رضي الله عنه فرمایي: "الله تعالی مونږ باندې سجده نه ده لازمه کړې، مګر کله چې موږ یې

وغواړو"[1]، دلته استثنا منقطع ده، يعنی د "إلا أن نشاء" معنی دا ده چې: که موږ وغواړو، نو سجده کوو. او د «إلَّا أن نشاء» معنی دا نه ده چې دا يو فرض دی چې موږ باندې يې فرض کړې ده، ځکه فرايض په مشيئت او غوښتلو باندې تعلق نه نيسي، او عمر (رضي الله عنه) دا کار د صحابو کرامو په حضور کې ترسره کړ، او هېڅ چا دغه عمل رد نه کړ، حال دا چې صحابه (رضي الله عنهم) به په هر ځای کې د منکر رد کاوه، نو د صحابو کرامو دا تائيد، چې په دې لوی مجلس کې د خليفه راشد عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) عمل تاييدول، دا ښيي چې د تلاوت سجده واجبه نه ده، او همدا نظر صحيح ده، که انسان په لمانځه کې وي او يا نه وي.

*** د سجدې تلاوت طريقه:**

تکبير وايي او سجده کوي - د لمانځه د سجدې- په اوو غړو باندې، او ووايي: "سبحان ربي الأعلى"، "سبحانك اللهم ربنا وبحمدك، اللهم اغفر لي"، بيا به دا مشهور دعا ووايي:

«اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ، اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا أَجْرًا، وَارْفَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ».

"اې الله! ما تا ته سجده وکړه، په تا مې ايمان راوړ، او په تا مې توکل وکړ، زما مخ د هغه الله تعالی په وړاندې سجده وکړه چې هغه يې پيدا کړ او صورت يې ورکړ، غوږ او سترګې يې

---

1 بخاري په کتاب سجود القرآن، باب من رأى أن الله عزوجل لم يوجب السجود، شمېره (1077) کې نقل کړی.

په خپل قدرت او قوت سره سوري کړې. اې الله! زما لپاره د دې سجدې په بدل کې اجر ولیکه، د دې سجدې په بدل کې زما ګناهونه معاف کړه، او دا زما لپاره خپل څان سره ذخیره کړه، او زما دغه سجده هماغسې قبوله کړه، څرنګه چې تا د خپل بنده داؤد (علیه السلام) سجده قبوله کړه".[1] بیا به پرته له تکبیر او سلام اړولو څخه ولاړ شي

"خو که چېرې په لمانځه کې د تلاوت سجده وکړي، نو د سجدې پر مهال دې تکبیر (الله اکبر) ووایي، او سجدې څخه د راپورته کېدو پر مهال دې بیا تکبیر ووایي؛ ځکه چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د لمونځ توصیف کوونکو ټولو ذکر کړي ده چې هغه (صلی الله علیه وسلم) به هر ځل چې ولاړ شو او ټیټ شو تکبیر به یې ویل.[2] او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به په لمونځ کې د تلاوت سجدې لپاره سجده کوله، لکه څرنګه چې دا د ابو هریره (رضي الله عنه) په حدیث کې ثابت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د ماخوستن په لمانځه کې تلاوت کړ:

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ 1﴾

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ 1﴾

---

[1] مسلم، په شمېره (771)، او ابو داود، په شمېره (760) کې نقل کړي.

[2] بخاري په کتاب الأذان، باب إتمام التکبیر في الرکوع، شمېره (785)، او مسلم په کتاب الصلاة، باب إثبات التکبیر في کل خفض ورفع، شمېره (392) د ابو هریرة رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړي.

کله چې اسمان وچوي. نو په هغې کې يې سجده و کړه[1].

او هغه کسان چې د نبي (صلى الله عليه وسلم) د لمونځ توصيف کوي، د تلاوت سجده له دې حکم څخه نه مستثنى کوي، نو دا ښيي چې په لمونځ کې د تلاوت سجده هم د اصلي لمونځ د سجدې په څېر ده، چې کله سجده کوي او که له سجدې څخه را ولاړيږي.

په دې کې هېڅ فرق نشته چې سجده د تلاوت شوې آيت په پای کې وي يا په منځ کې؛ نو کله چې سجده کوي يا ولاړيږی بايد تکبير ووايي، او کله چې رکوع کوي بيا به هم تکبير ووايي، په پرله پسې تکبيرونو په ويلو کې هېڅ حرج نشته؛ ځکه چې سببونه يې يو بل سره توپير لري.

ځينې خلک کله چې په لمانځه کې د سجدې آيت تلاوت کړي او سجده وکړي، نو يوازې د سجدې لپاره تکبير وايي، خو له سجدې څخه د ولاړېدو پر مهال تکبير نه وايي، زه د دې کار لپاره هېڅ اصل نه مومم، په تلاوت سجده کې د تکبير په اړه اختلاف، هغه مهال دی چې سجده د لمونځ څخه بهر وي؛ خو که سجده په لمونځ کې وي، نو د لمونځ د اصلي سجدې حکم لري، يعنی کله چې سجدې ته ځي هم تکبير وايي، او کله چې له سجدې څخه ولاړيږي هم تکبير وايي.

1 بخاري په کتاب الأذان، باب القراءة في العشاء بالسجدة، شمېره (768)، او مسلم په کتاب المساجد، باب سجود التلاوة، شمېره (578) کې نقل کړي.

د مسافر لمونځ دو رکعته دی، له هغه وخته چې د خپلې هستوګنې له ځایه په سفر وځي، تر هغه چې بېرته خپل هستوګن ځای ته راستون شي؛ د عائشې (رضي الله عنها) د وینا پر اساس چې وايي: "لومړی چې لمونځ فرض شو، دوه رکعته و، بیا د سفر لمونځ په خپل حالت کې پاتې شو، خو د حضر (مقیم) لمونځ بشپړ شو"[1] او په بل روایت کې راغلي: " او د حضر (مقیم) په لمونځ کې زیاتوالی راغی"[2].

همدارنګه انس بن مالک (رضي الله عنه) وايي: "موږ له مدینې څخه مکې ته د رسول الله (صلى الله علیه وسلم) سره سفر وکړ، او هغه (صلى الله علیه وسلم) به په ټول سفر کې دوه دوه رکعته لمونځ کاوه، تر هغه چې بېرته مدینې ته راستون شولو"[3].

خو که مسافر د امام (مقیم) تر شا لمونځ وکړي چې څلور رکعته لمونځ کوي، نو هغه (مسافر) باید څلور رکعته لمونځ وکړي، که په لومړي رکعت کې له امام سره یې لمونځ پیل

---

1 بخاري په کتاب التقصیر، باب یقصر إذا خرج من موضعه، شمېره (1090)، او مسلم په کتاب صلاة المسافرین وقصرها، په شمېره (3/685) کې نقل کړي.

2 بخاري په کتاب الصلاة، باب کیف فرضت الصلاة في الإسراء؟، شمېره (350)، او مسلم په کتاب صلاة المسافرین وقصرها، شمېره (1/685) کې نقل کړي.

3 بخاري په کتاب التقصیر، باب ما جاء في التقصیر، شمېره (1081)، او مسلم په کتاب صلاة المسافرین وقصرها، شمېره (693) کې نقل کړي.

کړی وي یا د لمونځ څه برخه ورڅخه پاتې وي؛ د نبي (صلی الله علیه وسلم) د عموم قول له مخې:

«إِذَا سَمِعْتُمْ الْإِقَامَةَ فَامْشُوا إِلَى الصَّلَاةِ، وَعَلَيْكُمْ السَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ، وَلَا تُسْرِعُوا، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا»،

"کله مو چې اقامت واورېده، نو په آرامی او وقار سره لمونځ ته ولاړ شئ، او بیړه مه کوئ، هغه برخه مو چې لاندې کړی وي هغه ادا کړئ، او هغه برخه چې تاسو څخه پاتې وي، بیا یې بشپړ کړئ"[1]، او د هغه صلی الله علیه وسلم عموم قول: "هغه برخه مو چې لاندې کړی وي هغه ادا کړئ، او هغه برخه چې تاسو څخه پاتې وي، بیا یې بشپړ کړئ" هغه مسافرو ته هم شاملېږي چې د مقیم امام تر شا څلور رکعته لمونځ کوي، ابن عباس (رضي الله عنهما) ته وویل شول: ولې مسافر کله چې یوازې وي، دوه رکعته لمونځ کوي، او کله چې د مقیم امام تر شا لمونځ کوي، څلور رکعته لمونځ کوي؟ نو هغه وویل: "دا هماغه سنت ده"[2]

او د مسافر څخه د جماعت لمونځ نه ساقطېږي، ځکه الله تعالی په جګړه کې هم د جماعت لمونځ باندې امر کړی، فرمایي چې:

---

[1] بخاري په کتاب الأذان، باب لا يسعى إلى الصلاة، شمېره (636)، او په باب قول الرجل: فاتتنا الصلاة، شمېره (635)، او مسلم په کتاب المساجد، باب استحباب إتيان الصلاة بوقار وسكينة، شمېره (602) (603) د ابو هریرة او ابو قتادة رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړي، او دا ابو هریرة رضي الله عنه د حدیث لفظ دی.

[2] امام احمد په «المسند» (1/ 216) کې نقل کړی.

﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمۡ فَأَقَمۡتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُم مَّعَكَ وَلۡيَأۡخُذُوٓاْ أَسۡلِحَتَهُمۡۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلۡيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمۡ وَلۡتَأۡتِ طَآئِفَةٌ أُخۡرَىٰ لَمۡ يُصَلُّواْ فَلۡيُصَلُّواْ مَعَكَ...﴾

(او چې کله ته په دوی کې وې او د لمانځه اقامت ورته وکړې نو د هغوی یو ټولی دې تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې واخلي، نو چې سجده یې وکړه بیا دې ستاسو تر شا اوسي او هغه بل ټولی دې راشي چې لمونځ یې لا نه دی کړی نو تا سره دې لمونځ وکړي...) [النساء:102] الآية.

نو که مسافر په بل ځای کې وي، باید د اذان اورېدو سره په جومات کې حاضر شي، مګر دا چې لیرې وي یا د سفر ملګري ورکېدو وېره ولري، د عمومي دلائلو له مخې هغه څوک چې اذان او یا اقامت اوري د جماعت لمونځ هغه باندې واجب دی.

اما د نفلي لمونځ په اړه؛دا چې مسافر ټول نفلي لمونځونه ادا کولی شي پرته د ماسپښین، ماښام او ماخوستن له سنتونو څخه، نور نفلونه لکه وتر، د شپې، ضحی، د سهار سنت او داسې نور مستثنی لمونځونه ادا کولی شي.

اما د جمع په اړه؛ که د حرکت په حالت کې وي، نو غوره ده چې ماسپښین او مازدیګر، او ماښام او ماخوستن سره جمع کړي، یا جمع تقدیم او یا جمع تاخیر، هر ډول چې هغه لره اسان وي،

او هر ډول چې اسان وي هماغه غوره ده،

او کله چې خپل ځای ته ورسېږي نو غوره ده چې جمع و نه کړي، او که جمع یې کړي، نو حرج نشته؛ ځکه چې دواړه طریقې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه ثابتې دي.

اما په رمضان کې د مسافر د روژې په اړه؛ نو نیول یې غوره دي، خو که افطار وکړي، نو حرج نشته، او د افطار شویو ورځو قضا ورباندې لازمه ده، خو که افطار کول ورته اسانه وي، نو افطار غوره دی؛ ځکه الله خوښوي چې د هغه رخصتونو باندې عمل شي، والحمد لله رب العالمین.

لیکنه: محمد الصالح العثیمین

په ۵/۱۲/۱۴۰۹ هـ

**څوک چې الوتکه کې سفر کوي څرنګه لمونځ وکړي؟**

۱. د نفل لمونځ په داسې حالت کې ادا کوي چې الوتکه کې په خپل څوکۍ کې ناست وي، هر لوري ته چې الوتکې مخه وه، د رکوع او سجده لپاره به اشاره وکړي، مګر سجدې لپاره به سر یوه اندازه زیات ټیټوي.

۲. فرض لمونځونه په الوتکه کې نه ادا کیږي مګر دا چې مخ یې په ټول لمونځ کې قبلې لوري ته وي، او همدارنګه رکوع، سجده، قیام او قعده په سمه توګه ترسره کولی شي.

۳- که چېرته داسې نشي کولی، نو تر ښکته کېدو پورې دې لمونځ وځنډوي، او پر ځمکه دې لمونځ وکړي، او که مخکې له ښکته کېدو د وخت د تیرېدو وېره وه، نو د جمع په قاعده کې د راتلونکي لمونځ وخت سره یوځای ادا کړي که هغه لمونځ وي چې یو بل سره جمع کیږي، لکه ماسپښین له

مازديګر سره، او ماښام له ماخوستن سره، او د دويم وخت لمونځ د تېرېدو وړه هم وه نو په الوتکه کې دې لمونځ وکړي مخکې له دې چې وخت يې تېر شي، او هڅه دې وکړي چې څومره کولی شي د لمانځه شرطونه، رکنونه او واجبات عملي کړي.

د مثال په توګه: که الوتکه د لمر له ډوبېدو څخه لږ وخت مخکې پورته شي، لمر غروب وکړي او هغه په هوا کې وي؛ نو هغه دې د ماښام لمونځ نه ادا کوي تر هغه چې الوتکه هوايي ډګر کې کېني، هغه دې ښکته شي او پر ځمکه دې لمونځ ادا کړي، او که چېرته د ماښام د لمونځ وخت د تېرېدو وړه وي، نو د ماخوستن لمونځ پورې دې وځنډوي، او د جمع تاخير په شکل دې پس له ښکته کېدو ادا کړي، او که د ماخوستن د لمونځ د وخت د تېرېدو وړه وي - کوم چې د شپې نيمايي ده-؛ مخکې له دې چې وخت تېر شي دواړه لمونځونه دې په الوتکه کې ادا کړي.

۴- په الوتکه کې د فرض لمونځ ادا کولو طريقه: دا چې ولاړ شي، او قبلې پر لور دې ودرېږي، تکبير دې ووايي، د فاتحې سورت دې ووايي، او مخکې له هغې څخه د استفتاح مسنونه دعا او وروسته له هغې څخه د قرآن لوستل، بيا به رکوع وکړي، بيا به له رکوع څخه ولاړ شي، تر هغه چې له ولاړېدو څخه ډاډمن شي، بيا به په سمه توګه سجده ترسره کړي، بيا به له سجدې څخه پورته شي، او ډاډمن شکل باندې دې کښيني، بيا به دويمه سجده ترسره کړي، بيا به په همدې طريقه خپل پاتې لمونځ ادا کړي.

که سجده نشي کولی، نو په ناسته دې سجدې لپاره اشاره وکړي، او که قبلې لور ورته معلوم نه و او بل کس هم چې د اعتماد وړ وي خبر يې نه کړ، نو د خپل کوښښ او اټکل پر اساس دې لمونځ ادا کړي.

۵- په الوتکه کې د مسافر لمونځ د قصر (لنډ) په ډول وي؛ لکه د نورو مسافرينو په څېر.

**مسافر په الوتکه کې څرنګه د حج او عمرې لپاره احرام تړي؟**

۱- په خپل کور کې دې غسل وکړي، خپل عادي جامې دې واغوندي، او که يې غوښتل د احرام جامې دې واغوندي.

۲- کله چې الوتکه ميقات ته نږدې شي، نو احرام دې واغوندي، که مخکې يې نه وي اغوستي.

۳- نو کله چې الوتکه ميقات ته ورسېده؛ د حج او يا عمرې لپاره دې لبيک ووايي او نيت دې وکړي.

۴- که د ميقات څخه مخکې احرام واغوندي او نيت وکړي؛ د غفلت او هېرېدو له وجې؛ نو حرج نشته.

دا ليکنه د محمد الصالح العثيمين ده

په ۲/۵/۱۴۰۹ ه، والحمد لِلّٰه ربِّ العالمين.

### *ناروغي، او هغه شيان چې ناروغ بايد ورته پاملرنه وکړي*

ناروغي: د روغتيا کمېدل، او د بدن د طبيعي توازن له منځه تلل.

ناروغ بايد لاندې شيانو ته پام وکړي:

١- په الله باندې ایمان ولري چې دا ناروغي د هغه په تقدير او قضاء کې وه، ځکه چې د هغه رب همدا ورته مقدر کړې، او الله تعالی د هغه پیدا کوونکی، او مالک دی، نو ځکه باید مطمئن، راضي او تسلیم وي.

٢- په دې ایمان ولري چې دا ناروغي د هغه په تقدير کې لیکل شوې وه، او د لیکل شوي څیز بدلول نا شونی دی.

٣- په ناروغی باندې باید صبر وکړي، د الله تعالی د دې قول پر اساس:

﴿...وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾

(... او صبر وکړئ! بې شکه الله له صبر کوونکو سره دی) [الأنفال: 46].

۴- خپل زړه دې له الله سره تړلی وساتي، او د هغه څخه دې د خلاصون تمه ولري؛ د هغه تعالی قول چې حدیث قدسي کې راغلي:

«أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي»،

"زه د خپل بنده د باور سره یم چې زما په اړه یې لري"[1]، او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دغه وینا چې فرمایي:

«وَاعْلَمْ أَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ، وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا».

---

1 بخاري په کتاب التوحید، باب قول الله تعالی: ﴿وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥ﴾، شمېره (7405)، او مسلم په کتاب الذکر والدعاء، باب الحث علی ذکر الله تعالی، شمېره (2675) د ابو هریرة رضي الله عنه د حدیث څخه نقل کړي.

" او پوه شه چې اساني له تکليف سره وي، او سختۍ سره اساني وي"[1].

۵- د فراغ له فرصت څخه بايد ګټه واخلي، په ډېر ذکر، د قرآن تلاوت، توبه او استغفار سره خپل وخت ډک کړي.

۶- د خپل ناروغي شکايت دې هېڅ چا ته نه کوي پرته له الله څخه ترڅو لرې يې کړي، خو د خبرتيا په توګه که نورو کسانو ته خبر ورکړي، نو ستونزه نشته، نه د شکايت لپاره.

۷- د روغتيا نعمت وپېژني، او نورو ناروغانو سره مهربان اوسي.

۸- بايد پوه شي چې د ناروغي له امله الله تعالى ګناهونه پاکوي، او بدۍ لمنځه وړي، او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه ثابت دی چې فرمايي:

«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ، إِلَّا حَطَّ اللَّهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا»،

"هيڅ مسلمان ته کړاونه د ناروغي او يا بل شي څخه نه رسيږي، مګر دا چې الله د هغه په بدل کې د هغه ګناهونه داسې رېژوي، لکه څنګه چې ونه خپلې پاڼې رېژوي"[2]، او په بل حديث کې راغلي چې فرمايي:

«مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ الْمُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا عَنْهُ»

---

[1] امام احمد په «المسند» (1/ 307) کې د ابن عباس رضي الله عنهما له حديث څخه نقل کړی.

[2] بخاري په کتاب المرضى، باب وضع اليد على المريض، شمېره (5660)، او مسلم په کتاب البر والصلة، باب ثواب المؤمن فيما يصيبه، شمېره (2571) د ابن مسعود رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړي.

"هيڅ مصيبت مسلمان ته نه رسيږي، مګر دا چې الله په هغې سره د هغه څخه ګناهونه پاکوي"[1] يعني: خطاګانې او ګناهونه.

**ناروغ څنګه طهارت (پاکوالی) ترسره کړي؟**

۱- ناروغ بايد د طهارت لپاره اوبه و کاروي، د کوچني حدث (ناپاکۍ) لپاره اودس، او د لوي حدث (ناپاکۍ) لپاره بايد غسل وکړي.

۲- که د اوبو د کارولو توان ونلري؛ د کمزورۍ، د ناروغۍ د زياتوالي، يا د روغېدو د وخت ځنډوالي له امله؛ نو تيمم دې وکړي.

۳- د تيمم طريقه: يوځل خپل دواړه لاسونه په پاکه ځمکه ووهي، بيا دې په دواړو لاسونو سره خپل ټول مخ مسح کړي، بيا دې خپل لاسونه يو پر بل باندې مسح کړي.

۴- که خپله طهارت نشي کولی، نو بل څوک دې ورته اودس يا تيمم ورکړي.

۵- که د طهارت پر ځينو غړو کې زخم وي؛ اوبو سره دې ووينځي، که چېرته اوبه ورته ضرر رسوي؛ نو په هماغه ځای دې مسح وکړي، خپل لاس دې په اوبو لوند کړي او د زخم پر ځای دې کش کړي، او که مسحه هم ورته ضرر رسوي؛ نو تيمم دې ترې وکړي.

---

[1] بخاري په کتاب المرضی، باب ما جاء في كفارة المرض، شمېره (5640)، او مسلم په کتاب البر والصلة، باب ثواب المؤمن فيما يصيبه، شمېره (2572) د عائشې رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړی.

۶- که د بدن په ځینو غړو کې د ماتېدو له وجې په ګچ ( پلستر) باندې تړلی وي؛ د مینځلو په بدل کې دې ورباندې مسح وکړي، او تیمم ته اړتیا نشته؛ ځکه چې مسح د غسل بدیل ده.

۷- تیمم پر دیوال یا نورو پاکو شیانو باندې هم جواز لري، خو باید غبار ولري، که دیوال د ځمکې له جنس څخه پرته په بل شي باندې مسح شوی وي لکه رنګ کړی شوی وي، نو پر هغه تیمم نه کېږی مګر دا چې دیوال باندې غبار وي.

۸- که هغه ځمکه یا دیوال ته لاسرسی ونلري چې غبار ولري؛ نو ستونزه نشته چې یوې لوښي یا رومال کې خاوره واچوي او هغه باندې تیمم وکړي.

۹- که یو لمونځ لپاره تیمم وکړي، او د لمونځ تر بل وخت پورې په طهارت کې وي؛ نو په همدې لومړي تیمم سره لمونځ کولی شي، او بل لمونځ لپاره دویم تیمم ته اړتیا نشته؛ ځکه چې هغه تر دې دمه په طهارت کې دي، او د تیمم د باطلېدو لپاره څه نشته، او که چېرته د جنابت له امله یې تیمم کړی وي؛ نو یوازې هغه وخت باید تیمم تکرار کړي چې هغه ته بل جنابت پېښ شي، خو په دې موده کې کوچني حدث (ناپاکۍ) څخه تیمم کولی شي.

۱۰-ناروغ باید خپل بدن له نجاساتو څخه پاک وساتي، او که دا کار نشي کولی نو په خپل حالت کې دې لمونځ ادا کړي، او لمونځ یې صحیح ده، او هغه باندې د لمانځه بیا راګرځول نشته.

۱۱- ناروغ باید په پاکو جامو کې لمونځ وکړي، او کله چې جامې يې ناپاکې شي؛ هغه باید ومينځي يا يې بدلې کړي، او که دا کار نشي کولی نو په خپل حالت کې دې لمونځ ادا کړي، او لمونځ يې صحيح ده، او هغه باندې د لمانځه بيا راګرځول نشته.

۱۲- ناروغ باید په پاک ځای کې لمونځ ادا کړي، کله چې ځای يې ناپاک شي، هغه باید پاک کړي يا يې په پاک باندې بدل کړي، او يا بل پاک څيز پرې واچوي، که بل هېڅ شتون و نه لري، نو په خپل حالت کې دې لمونځ ادا کړي، لمونځ يې صحيح ده، او هغه باندې د لمانځه بيا راګرځول نشته.

۱۳- ناروغ ته جواز نه لري چې د طهارت د نشتوالي له امله لمونځ وځنډوي، بلکې هغه څه چې کولی شي په طهارت کې يې وکړي، ترسره دې کړي، او خپل لمونځ دې په خپل وخت کې ادا کړي، که څه هم په بدن، جامو، يا د لمونځ ځای کې نجاست وي چې هغه نشي لرې کولی، الله تعالی فرمايي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ...﴾

(نو څومره چې کولای شئ له الله څخه ووېرېږئ...) [التغابن:16].

الله ته محتاج بنده

محمد الصالح العثيمين ليکلی دی

په ۹/۱/۱۴۰۳هـ

**ناروغ څرنګه لمونځ وکړي؟**

۱- ناروغ لپاره اړین ده چې فرضي لمونځونه په ولاړه ترسره کړي، حتی که د منحني (رکوع) په شکل وي، او یا دیوال یا لکړې باندې تکیه وکړي، که چیرې تکیه کولو ته اړتیا ولري.

۲- او که چیرې په ولاړه لمونځ نه شي کولی نو په کیناستو سره دې وکړي، په دې حالت کې غوره ده چې په قیام او رکوع کې د پلتۍ (تربع) په شکل کښیني.

۳- او که چیرې په کېناستو باندې هم لمونځ نه شي کولی؛ نو په یو اړخ (پر څنګ) دې لمونځ وکړي او مخ یې باید قبلې ته وي، ښی اړخ غوره دی، که چیرې مخ قبلې ته نه شي اړولی؛ نو په هماغه لوري دې لمونځ وکړي چې مخ یې وي؛ لمونځ یې صحیح ده، او هغه باندې د لمانځه بیا راګرځول نشته.

۴- که چیرې په اړخ باندې هم لمونځ نه شي کولی، نو په ملاستې باندې دې لمونځ وکړي، چې پښې یې قبلې ته وي، که چیرې خپلې پښې هم قبلې ته نه شي اړولی؛ نو په هر حالت کې چې وي لمونځ دې ادا کړي، او هغه باندې د لمانځه بیا راګرځول نشته.

۵- ناروغ باید خپل لمونځ کې رکوع او سجده وکړي، که چیرې نه شي کولی، نو رکوع او سجدې لپاره دې خپل سر باندې اشاره وکړي، او سجده دې له رکوع څخه ټیټه ترسره کړي، که چیرې رکوع کولی شي خو سجده نه شي کولی، نو د رکوع لپاره دې رکوع وکړي او سجدې لپاره دې اشاره

وکړي، که چیرې سجده کولای شي خو رکوع نه شي کولی، نو سجدې لپاره دې سجده وکړي او رکوع لپاره دې اشاره وکړي.

۶- که چیرې رکوع او سجدې لپاره په سر باندې اشاره نه شي کولی؛ نو سترګو سره دې اشاره وکړي، د رکوع لپاره په لږ اندازه سترګې پټې کړي او د سجدې لپاره دې په زیاته اندازه پټې کړي، خو په ګوته اشاره کول، لکه څنګه چې ځینې ناروغان یې کوي، صحیح نه دی، او د کتاب، سنت، یا د علماءو په قولونو کې هغه لپاره هېڅ دلیل نه پېژنم.

۷- که چیرې په سر او سترګو باندې اشاره نه شي کولی؛ نو په زړه سره دې لمونځ وکړي، تکبیر دې ووایي، قرائت دې وکړي، او په زړه کې دې رکوع، سجده، قیام، او قعده ترسره کړي، هر چا لپاره هغه شی ده چې نیت یې کړی وي.

۸- ناروغ باید هر لمونځ په خپل ټاکلي وخت سره وکړي، او هغه واجب عملونه دې ترسره کړي چې توان یې لري، که چیرې هغه باندې د هر لمونځ ادا کول په خپل وخت کې ستونزمن وي، نو هغه کولی شي چې ماسپښین او مازدیګر، او ماښام او ماخوستن لمونځونه یوځای ادا کړي، یا د جمع تقدیم په شکل (د مازدیګر لمونځ د ماسپښین لمونځ سره او ماخوستن لمونځ د ماښام لمونځ سره یو ځای ادا کړي)، یا د جمع تأخیر په شکل (د مازدیګر لمونځ ماسپښین لمونځ سره او د ماخوستن لمونځ د ماښام لمونځ سره یو ځای ادا کړي)، هر هغه ډول چې اسانه وي هماغه ډول دې وکړي، خو د

سهار لمونځ نه د مخکې لمونځ سره او نه د وروسته لمونځ سره جمع کېږي.

۹- که چیرې ناروغ په سفر کې وي او د خپل استوګنځای څخه پرته بل ځای کې درملنه کوي، نو هغه څلور رکعتي (رباعي) لمونځونه لنډوي، د ماسپښين، مازدیګر، او ماخوستن لمونځونه دوه دوه رکعتونو ادا کوي، تر هغه چې خپل استوګنځای ته راستون شي، که سفر یې اوږد یا لنډ وي.

## ناروغ څنګه روژه ونیسي؟

۱- د ناروغ لپاره د روژې په اړه درې حالتونه دي:

لومړی حالت: دا چې روژه هغه باندې سخته نه وي، او هغه ته ګوابښ ونه لري؛ نو پدې حالت باید روژه ونیسي.

دويم حالت: کله چې روژه نیولورباندې سخته وي؛ نو مکروه ده چې روژه ونیسي، ځکه چې د الله تعالی رخصت يې نه دی منلی.

دريم حالت: دا چې روژه ورته ګوابښ وي؛ نو په دې حالت کې روژه نیول ورباندې حرام ده، نو که یې ونیسي، د ګناه مرتکب شوی؛ د الله تعالی د دې قول پر اساس:

﴿...وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾

(او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو باندې بې حده مهربان دی) [النساء:29]، او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د دې قول په اساس:

«إِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا»

"ستا نفس تا باندې حق لري" متفق عليه دی په یو اوږد حدیث کې[1].

۲- کله چې الله تعالی ناروغ ته شفا ورکړي، هغه باید خپل قضا شوي روژې ونیسي، او تر دویم رمضان پورې دې نه ځنډوي.

۳- که چیرې په راتلونکي کې د روژې قضا ادا کول یې ناممکن وي، د هغه ناروغی له امله چې د روغېدو هیله یې نه وي، نو په دې حالت کې په رمضان کې د هرې ورځې پر بدل یو مسکین ته خواړه ورکړي، یا د قضا شوي ورځ کې دې خواړه ورکړي، یا د میاشتې په پای کې دې یو شمېر مسکینانو ته خواړه چمتو کړي چې د قضا شویو ورځې په اندازه وي، او یا هر ۱۰ ورځې وروسته ۱۰ مسکینانو ته خواړه ورکړي.

۴- کله چې ناروغ د رمضان څخه وروسته روغ شي، او روژه نیول ورته آسانه وي، او قضا یې ادا نه کړي تر هغه چې مړ شي؛ نو د هغه ولی (نږدې کس) دې د روژې قضا پر ځای کړي؛ که چیرې ولي هم دا کار ونه کړي، نو د هغه د مال څخه دې د هرې ورځې پر بدل یو مسکین ته خواړه ورکول شي، او که چیرې ولي په خپله خواړه ورکړي، نو هېڅ حرج نشته.

[1] بخاري په کتاب التهجد، شمېره (1153)، او مسلم په کتاب الصیام، باب النهي عن صوم الدهر، شمېره (186-182/1159) د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړي.

*** فضیلت یې:**

او د الله تعالی رحمت خپلو بنده ګانو لپاره: دا ده چې الله سبحانه وتعالی د هر فرض عبادت لپاره نفلي (تطوعي) عبادت هم مقرر کړی دی، نو فرضي لمونځ په څېر نور لمونځونه شتون لري، او د زکات په څېر نور صدقات شتون لري، او د فرضي روژې په څېر نفلي روژې شتون لري، همدارنګه حج لپاره هم نفلي حج شتون لري، او دا په بنده ګانو باندې د الله تعالی لوی رحمت دی تر څو بنده د دې له لارې څخه هغه ته نږدې شي او ډېر ثواب تر لاسه کړي، او د فرض عباداتو کموالی د دې نفلونو له لارې ترمیم کړي؛ ځکه چې د قیامت په ورځ نفلونه د فرضونو کموالی تکمیلوي.

**نو د نفلي لمونځونو څخه:**

١ - د فرض لمونځونو سره تړلي نفلونه:

چې هغه دا دي: د ماسپښین لمونځ څخه مخکې ۴ رکعته په دوو سلامونو سره، او دا د ماسپښین د وخت په داخلېدو سره ادا کیږي، نه مخکې له وخت څخه، او دوه رکعته د ماسپښین لمونځ څخه وروسته، په دې توګه د ماسپښین مجموعي راتبه سنتونه ۶ رکعته جوړیږي، دا ټول د ماسپښین راتبه سنتونه دي، اما مازدیګر راتبه سنت نه لري، او دوه رکعته د ماښام لمانځه څخه وروسته، او دوه رکعته د ماخوستن لمانځه څخه وروسته، او دوه رکعته د سهار لمانځه څخه مخکې.

د سهار دوه رکعته ځانګړتیاوې لري:

غوره دا ده چې دا دواړه رکعته په لنډه توګه ادا شي.

او په هغو کې دا قرائت شي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ 1﴾

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ 1﴾

(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: اى كافرانو! په لومړي ركعت كې، او

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ 1﴾

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿1﴾

(اې نبي!) ته (دوى ته) ووايه: شان دا دى چې الله يو دى.

په دويم ركعت كې، يا د الله تعالى دا قول:

﴿قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا...﴾

﴿قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا...﴾

ژباړه: ووايئ (اې مؤمنانو!) چې موږ ايمان راوړى دى پر الله او پر هغه (قرآن) چې پر موږ نازل شوى دى... [البقرة:136] آيت په سورت البقره كې په لومړى ركعت كې، او

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۢ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ...﴾

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۢ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ...﴾

ژباړه: ورته وايه اى اهل كتابو هغه څه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ يو برابر دى... [آل عمران:64] آيت په آل عمران سورت كې په دويم ركعت كې.

او دا سنت - يعني: د سهار سنت- هم په سفر كې او هم په حضر كې ادا كېږي.

د دې لپاره چې په دې کې ډېر فضيلت شته، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د دې په اړه وفرمايل:

«رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا».

"د سهار دوه رکعته له دې دنيا او هر څه چې په کې دي ډېر غوره دي"[1].

۲- د هغو له جملې څخه: وتر دی:

وتر د نفلونو تر ټولو مؤکد لمونځ دی، حتی ځينې علماء د هغه وجوب باندې ټينګار کوي، په دې اړه امام احمد (رحمه الله) فرمايي: "هغه سړی چې وتر پرېږدي، بد سړی دی او د هغه ګواهي نه منل کېږي"[2].

او په وترو سره د شپې د لمونځ پای ته رسېږي، که چېرې څوک وېره ولري چې د شپې په آخر کې پاڅېدلی نه شي؛ نو د خوب دمخه دې وتر وکړي، او که څوک يقين ولري چې د شپې په آخر کې پاڅېږي، نو د شپې په پای کې د نفلو څخه وروسته دې وتر وکړي، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل:

«اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا».

---

[1] مسلم په کتاب صلاة المسافرين، باب استحباب رکعتي سنة الفجر، شمېره (725) د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړی.

[2] وګوره: مسائل الإمام أحمد، رواية ابنه أبي الفضل، (مخ:53) شمېره (159) ت. طارق عوض الله.

"خپل د شپې وروستی لمونځ وتر جوړ کړئ"[1].
او لږ يې: يو رکعت دی، او ډېر يې: يوولس رکعتونه دي، او تر ټولو ټيټ کمال: درې رکعتونه دي.

که چېرې څوک د وتر لمونځ درې رکعتې وکړي، نو هغه د دې اختيار لري، يا ټول درې رکعتونه دې يوځل له يو تشهد سره ادا کړي، يا د دوو رکعتونو وروسته دې سلام واړوي، بيا دې يو رکعت لمونځ وکړي.

که چېرې څوک د وتر لمونځ هېر کړي يا د خوب له امله پرېښودل شي، نو هغه بايد د ورځې جفت رکعتونه قضايي راوړي، که عادت يې درې رکعتونه وي، هغه بايد څلور رکعتونه وکړي، او که عادت يې پنځه رکعتونه وي، هغه دې بايد شپږ رکعتونه ادا کړي، او همداسې نور؛ ځکه چې په صحيح (حديث) کې له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه روايت دی چې له هغه به کلهد خوب يا ناروغۍ له امله د شپې لمونځ پاتې شو، نو په سبا باندې به يې دولس رکعته لمونځ کاوه.[2].

### 3. د ضحی (څاښت) لمونځ:

او تر ټولو لږ (د ضحی لمونځ) دوه رکعته ده، او د ډېرو لپاره حد نشته؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د

---

1 بخاري په كتاب الوتر، باب ليجعل آخر صلاته وترًا، شمېره (998)، او مسلم په كتاب صلاة المسافرين، باب صلاة الليل مثنى مثنى، شمېره (751) د ابن عمر رضي الله عنهما له حديث څخه نقل کړي.

2 مسلم په كتاب صلاة المسافرين، باب جامع صلاة الليل، شمېره (746) د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړی.

ضحى په وخت کې څلور رکعته لمونځ کاوه، او څومره چې د الله اراده وي په هماغه اندازه دې ورزيات کړي.[1]

او د ضحى وخت: د لمر ختل د يوې نېزې په اندازه، يعنې د لمر له ختلو څخه نږدې پنځلس دقيقې وروسته تر غرمې پورې، يعنې د لمر د زوال څخه نږدې لس دقيقې وړاندې دى.

او د مشروعيت دليل يې: د ابو هريره رضي الله عنه حديث دى چې وايي:

«أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ: صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَرَكْعَتَي الضُّحَى، وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ».

( أَوْصاني خَلِيلِي بِثَلاثٍ: صِيام ثَلاثَة أيّامٍ مِن كلِّ شَهْرٍ، وركعَتَي الضُّحى، وأن أُوتِرَ قبلَ أن أنامَ )[2].

«زما دوست او ملګري مې - صلى الله عليه وسلم - راته په درېو کارونو وصيت کړى: له هرې مياشتې درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدلو وړاندې وتر وکړم».

او له أبو ذر رضى الله عنه څخه روايت دى وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ،

---

[1] مسلم په کتاب صلاة المسافرين، باب استحباب صلاة الضحى، شمېره (719) کې د عائشة رضي الله عنها له حديث څخه نقل کړى.

[2] بخاري په کتاب التطوع، باب صلاة الضحى في الحضر، شمېره (1178)، او مسلم په کتاب صلاة المسافرين، باب استحباب صلاة الضحى، شمېره (721) کې نقل کړي.

وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى».

«د هر يو له تاسو په هر بند (مفصل) باندې صدقه ده؛ نو هر سبحان الله ويل صدقه ده، او هر الحمدلله ويل صدقه ده، او هر لا اله الا الله ويل صدقه ده، او هر الله اکبر ويل صدقه ده، او په معروف امر کول صدقه ده، او له منکر نه منع کول صدقه ده، او د ضحى دوه رکعته چې يو څوک يې ادا کوي د دې (صدقو) لپاره بسنه کوي»[1].

### *د نهي وختونه*

دا هغه وختونه دي چې شريعت په هغو کې د نفلي لمونځونو څخه نهي کړې ده؛ يعني: هغه مطلق نفلي لمونځونه چې سبب و نه لري.

د نهي وختونه درې دي:

لومړی وخت: له سهار لمانځه وروسته تر دې چې لمر د يوې نېزې په اندازه پورته شي، يعنې د لمر له ختلو څخه نږدې ۱۵ دقيقې وروسته، د سهار لمانځه لپاره اعتبار: دا ده چې هر انسان په خپله لمونځ وکړي.

دويم وخت: کله چې لمر د اسمان په وسط (غرمې مهال) کې قرار ولري، تر هغه چې لمر زوال وکړي، او دا د ورځ وسط دی، تقريبا لس دقيقې مخکې له دې چې لمر زوال وکړي.

---

1 مسلم په کتاب صلاة المسافرين، باب استحباب صلاة الضحى، شمېره (720) کې نقل کړی.

درېم وخت: د مازدیګر لمونځ وروسته تر لمر پرېوتو پورې، او معتبر دا دی چې هر مسلمان په خپله لمونځ وکړي، نو کله چې یو انسان د مازدیګر لمونځ وکړي؛ بیا تر لمر پرېوتو پورې لمونځ کول پرې حرامېږي.

خو له هغو څخه مستثنی:

١) فرض لمونځونه، لکه: که چېرته یو سړی ته د پخوا فوت شوي لمونځ په دې وختونو کې ور یاد شي، نو په دې وختونو کې یې ادا کولی شي؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې عمومي حدیث په استناد سره:

«مَنْ نَامَ عَنْ صَلَاةٍ أَوْ نَسِيَهَا؛ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا».

"چا څخه چې د خوب له کبله لمونځ پاتې شي او یا یې هېر شي؛ نو کله چې یې په یاد راشي، بیا دې ادا کړي"[1].

او د راجح قول په اساس، هغه نفل لمونځونه چې سبب ولري مستثنی دي؛ ځکه چې دا لمونځونه د خپل سبب سره تړلي دي، او لمونځ همدې سبب ته راجع کېږي، نو په دې سره هغه حکمت منتفي کېږي چې د هغې له وجې څخه نهي رامنځته شوې ده، د مثال په توګه: که چېرته د مازدیګر لمونځ وروسته جومات ته داخل شوې، نو دوه رکعت تحیه المسجد به ادا کړې؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې حدیث په اساس:

«إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ؛ فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ»،

---

[1] بخاري په کتاب مواقیت الصلاة، باب من نسي صلاة، شمېره (597)، او مسلم په کتاب المساجد، باب قضاء الصلاة الفائتة، شمېره (684) د انس رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړی، او بخاري خوب نه دی یاد کړی.

"کله چې يو له تاسو څخه جومات ته ننوځي، تر هغه پورې دې نه کښېني چې دوه رکعته لمونځ يې نه وي ادا کړی"[1]، او همدارنګه که د سهار لمونځ څخه وروسته، يا د لمر د زوال په وخت کې داخل شي.

که د مازديګر لمانځه وروسته لمر ونيول شي (کسوف)، نو د کسوف لمونځ ادا کولی شي؛ ځکه چې دا سبب لرونکی لمونځ دی.

که چېرته يو څوک د قرآن تلاوت وکړي، او د سجدې آيت ته ورسېږي، نو هغه بايد سجده وکړي؛ که څه هم ممنوعه وختونو کې وي، ځکه چې دا هم سبب لرونکی لمونځ دی.

## د لمونځ پرېښودونکي حکم

پوښتنه: که يو سړی خپل کورنۍ ته د لمونځ امر وکړي، خو دوی غوږ ونه نيسي، ايا له دوی سره اوسېدلی شي او اختلاط کولی شي، يا بايد له کوره ووځي؟

ځواب: که دا کورنۍ په هيڅ صورت فرض لمونځ نه ادا کوي، نو دوی کافر او مرتد دي، له اسلام څخه بهر دي، په دې حالت کې له دوی سره اوسېدل حرام دي.

خو اړينه ده چې هغه دوی ته په دعوت کولو کې ټينګار وکړي او بيا بيا هڅه وکړي، ښايي الله تعالی هغوی ته هدايت وکړي؛ ځکه چې د لمونځ پرېښودونکی - العياذ بالله - د

---

[1] بخاري په کتاب التهجد، باب ما جاء في التطوع مثنی مثنی، شمېره(1163)، او مسلم په کتاب الصلاة، باب استحباب تحية المسجد، شمېره (714) د ابو قتادة رضي الله له حديث څخه نقل کړي.

کتاب، سنت، صحابه کرامو او د صحیح دلیلونو پر اساس کافر دی، نو له دې ډېر خطرناک عمل څخه ځان ساتل اړین دی.

د قرآن کریم څخه د الله تعالی دا قول د مشرکینو په هکله ده:

﴿فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِ...﴾ (نو که توبه یې ووېستله، لمونځ یې ترسره کړ، او زکات یې ورکړ نو بیا خو ستاسي دیني وروڼه دي...) [التوبة:11]، د آیت مفهوم دا دی چې که دوی لمونځ نه کوي، بیا زموږ دیني وروڼه نه دي، د ګناهونو له امله - که څه هم سترې وي - دیني ورورولي له منځه نه ځي، خو د اسلام نه د وتلو له امله له منځه ځي.

او په سنت کې د جابر رضي الله عنه د حدیث له مخې چې مسلم روایت کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ تَرْكُ الصَّلَاةِ»، "د یو سړي او د کفر او شرک ترمنځ د لمونځ پرېښودل دي"[1]، او په سننو کې د بریده رضي الله عنه د حدیث له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ: الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ».

«هغه پیمان چې زموږ او د دوی تر منځه دی لمونځ دی، نو چا چې پرېښود یقینا چې کفر یې کړی دی»[2].

---

1 مسلم په کتاب الإیمان، باب بیان إطلاق اسم الكفر على من ترك الصلاة، شمېره (82) کې نقل کړی.

2 ترمذي په کتاب الإیمان، باب ما جاء في ترك الصلاة، شمېره (2621)، او نسائي په کتاب الصلاة، باب الحكم في تارك الصلاة، شمېره (464)، او ابن

اما د صحابه کرامو له اقوالو څخه، امیر المومنین عمر رضي الله عنه فرمايي: "څوک چې لمونځ پرېږدي په اسلام کې حصه نه لري"[1] او د "الحظ" معنا نصيب ده، او دلته د نفي په سياق کې نکره (عامه) راغلې، يعني: هيڅ نصيب نه لري، نه لږ او نه ډېر.

عبد الله بن شقيق ويلي دي: "د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم صحابه کرام په داسې هيڅ يو عمل په يو نظر نه دي چې پرېښودل يې کفر وي، پرته د لمونځ څخه"[2].

اما د صحيح نظر له مخې ويل کېږي چې: ډيا دا معقول دی چې يو سړی چې په زړه کې يې د خردل د دانې په اندازه ايمان وي، د لمونځ عظمت وپېژني، او د الله جل جلاله په لمونځ باندې خاصه پاملرنه وپېژني، بيا هم په مطلق ډول سره لمونځ پرېږدي؟! دا ناشونې ده.

ما د هغو کسانو دلائلو کې فکر وکړ چې وايي: د لمونځ پرېښودونکی کافر نه دی، دغه دلايل مې د پنځو حالتونو څخه بهر و نه موندل:

---

ماجه په کتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فيمن ترك الصلاة، شمېره (1079)، او أحمد (346/5) کې نقل کړی.

1 مالك په الموطأ- رواية يحيى بن يحيى: په کتاب الصلاة، باب العمل فيمن غلبه الدم، (81/1) په شمېره (93)، او عبد الرازق په «المصنف» (150/1)، او ابن أبي شيبة په «المصنف» (25/11)، او أحمد په «الزهد» مخ (154) کې نقل کړي.

2 ترمذي په کتاب الإيمان، باب ما جاء في ترك الصلاة، شمېره (2622) کې نقل کړی.

1- یا دا چې په دې کې هیڅ دلیل نشته.

2- یا دا چې په داسې یو وصف سره مقیده شوې وي چې هغه سره د لمونځ پرېښودل منع کېدی شي.

3- یا دا چې په داسې یو حالت سره محدوده شوې وي چې په هغو کې د لمونځ پرېښودل عذر ګڼل کېږي.

4- او یا دا چې عمومي ده، نو د لمونځ پرېښودونکی د کفر په احادیثو سره ځانګړی کېږي.

5- یا دا چې ضعیف دي او د صحیحو احادیثو په وړاندې مقاومت نه شي کولی.

او په نصونو کې دا نشته چې د لمونځ پرېښودونکی مومن دی، یا به جنت ته داخل شي، یا به له دوزخ نه خلاصیږي، او داسې نور، او هغه څه چې اړین دي چې د لمونځ پرېښودونکي په اړه د کفر تاویل وکړو، دا ده چې ایا دا د نعمت کفر دی، یا د کفر څخه وړکی کفر دی.

"او کله چې څرګنده شي چې د لمونځ پرېښودونکي کفر د ارتداد کفر دی؛ نو په دې کفر سره د مرتدینو احکام پرې تطبیقیږي، چې ځینې یې دا دي:

لومړی: هغه سره واده کول صحیح نه دی، که چېرې د هغه نکاح هم شوې وي او لمونځ نه کوي، نو دا نکاح باطل ده او په دې نکاح سره ښځه هغه ته حلاله نه ده؛ د الله تعالی د دې وینا پر اساس چې د مهاجرینو ښځو په اړه فرمایي:

﴿...فَإِنۡ عَلِمۡتُمُوهُنَّ مُؤۡمِنَٰتٖ فَلَا تَرۡجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلۡكُفَّارِۖ لَا هُنَّ حِلّٞ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّ...﴾

( ... نو که چېرې تاسي ته مومناني معلومې شوې؛ نو بېرته يې کافرو ته مه ورستنوئ؛ هغوی نه دوی ته حلالې دي او نه دوی (کافران) هغوی ته حلال دي...) [الممتحنة:10].

دويم: که چېرې هغه د واده وروسته لمونځ پرېږدي، نو نکاح يې فسخ کېږي او ښځه يې پرې حرامه ده؛ د مخکې تشريح شوې آيت له مخې، چې د علماءو په نظر د دخول مخکې يا وروسته توپير لري.

دريم: لمونځ پرېښودونکی سړی که حيوان ذبح کړي، نو هغه ذبيحه نه خوړل کېږي؛ ځکه چې حرامه ده، که يهودي يا نصراني يې ذبح کړي، نو د هغه د ذبيحې څخه خوړل موږ ته حلال دي، په دې صورت کې - العياذ بالله - د هغه ذبيحه د يهودو او نصاراوو په پرتله ډېره ناپاکه ده.

څلورم: هغه ته مکه مکرمې ته يا د حرم حدودو ته ننوتل روا نه دی؛ د الله تعالی د دې قول له مخې:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَا...﴾

( ای مومنانو! مشرکان ناولي دي نو له سږ کال وروسته دې مسجد حرام ته نه ورنږدې کېږي...) [التوبة:28].

پنځم: که چېرې د هغه له خپلوانو څوک مړ شي، نو هغه په ميراث کې حق نه لري، د مثال په توګه: يو مسلمان سړی چې لمونځ کوي، مړ شي او يو زوی يې پاتې شي چې لمونځ نه کوي او يو لرې د تره زوی (عاصبي) پاتې وي، نو ميراث به څوک ترلاسه کوي؟

ځواب: د تره زوی به میراث اخلي، نه هغه زوی چې لمونځ نه کوي؛ د اسامه د حدیث له مخې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ»

"مسلمان له کافر څخه میراث نه وړي، او نه کافر له مسلمان څخه میراث وړي" متفق علیه[1]، او د هغه صلی الله علیه وسلم د دې حدیث له مخې:

«أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَلِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ»

"فرایض (میراث) استحقاق لرونکو ته ورکړئ، او پاتې شوي میراث د نږدې نارینه و پورې تړاو لري" متفق علیه[2]، دا مثال د ټولو وارثانو په اړه تطبیقیږي.

شپږم: که چېرې هغه مړ شي، نو هغه ته غسل او کفن نه ورکول کیږي، او هغه باندې لمونځ نه کیږي، او نه مسلمانانو سره خښول کیږي، نو؛ په دې حالت کې څه وکړو؟

ځواب: هغه به صحرا ته وړو، هغه ته به یوه کنده وکیندو، او په خپلو جامو کې به یې خښوو؛ ځکه چې هغه هیڅ حرمت نه لري، نو په دې اساس، که چېرې څوک مړ شي او د هغه نږدې خپلوال پوه وي چې مړ شوي کس لمونځ نه کاوه، نو

---

1 بخاري په کتاب الفرائض، باب لا یرث المسلم الکافر، شمېره (6764)، او مسلم په کتاب الفرائض، شمېره (1614) کې نقل کړي.

2 بخاري په کتاب الفرائض، باب میراث الولد من أبیه وأمه، شمېره (6732)، او مسلم په کتاب الفرائض، باب ألحقوا الفرائض بأهلها، شمېره (1615) کې د ابن عباس رضي الله عنهما له حدیث څخه نقل کړي.

هغه حق نه لري چې مسلمانانو ته يې د لمونځ لپاره وړاندې کړي.

اووم: هغه به په قيامت کې د فرعون، هامان، قارون او أُبي بن خلف سره يوځای حشر شي – د کفر مشرانو (العياذ بالله) – او جنت ته به نه ننوځي، د هغه خپلوانو ته روا نه ده چې هغه لپاره د مغفرت غوښتنه وکړي؛ ځکه هغه کافر دی او د دې مستحق نه دی؛ د الله تعالی د دې قول له مخې:[1]

﴿مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ 113﴾

(نبي او هغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړی دی؛ روا نه دي چې د مشرکانو لپاره مغفرت وغواړي اګر که دغه (مشرکان) رشته داران هم وي، وروسته له دې نه چې دوی ته دا ښه ښکاره شوه چې يقيناً دوی د دوزخ والا دي 113﴾ [التوبة:113].

ورونو! دا مسئله ډېره خطرناکه ده، او له بده مرغه ځينې خلک په دې جدي مسئله کې بې پروايي کوي.

خو د توبې دروازه – الحمدلله – خلاصه ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

﴿فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ٥٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ٦٠ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ

---

[1] او دا هغه څه دي چې امام أحمد په «المسند» (169/2) کې د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما له حديث څخه نقل کړی.

ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ٦١ لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا 62﴾

(نو له دوی نه وروسته داسې بد ځای ناستي پېدا شول چې لمونځونه يې ضايع کړل او د شهوتونو پيروي يې وکړه، نو ژر به دوی د خپلې بدۍ له انجام سره ملاقات وکړي ۵۹

مګر هغه څوک چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو دغه کسان دي چې دوی به جنت ته داخلېږي او پر دوی به د هېڅ شي ظلم نه کېږي ۶۰

د تل اوسېدونې جنتونو ته، هغه چې رحمٰن يې وعده کړې ده له خپلو بنده ګانو سره په ناليدلو، بېشکه (الله) چې دی، د ده وعده (خامخا) راتلونکې ده ۶۱

دوی به په دغو (جنتونو) کې لغوه خبرې نه اوري بس سلام به اوري، او د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې سبا او بېګاه د دوی رزق دی ۶۲) [مريم:59-62].

نو له الله تعالی څخه غواړو چې مونږ او زمونږ مسلمان ورونه دې د هغه په اطاعت کې په هغه ډول قايم ولري چې هغه راضي وي. والله أعلم، وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

محمد بن صالح العثيمين

## توبه

توبه: د الله تعالی له نافرمانۍ څخه د هغه د اطاعت په لور راګرځېدل دي.

توبه هر مومن باندې فرض ده.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا...﴾
(اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړى! الله ته توبه وباسئ، سوچه توبه...) [التحريم:8].

توبه الله عزوجل ته محبوبه ده.

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ﴾
(... بېشكه الله تعالى خوښوي توبه ايستونكى (له ګناهونو څخه) او خوښوي ځان ساتونكي له (پليتيو څخه). [البقرة:222].

توبه د فلاح (بريا) له لاملونو څخه ده.

﴿...وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ﴾
(... او اي مومنانو تاسو ټول الله ته توبه وباسئ د دې لپاره چې بريا در په برخه شي) [النور:31]، فلاح: دا دى چې انسان خپل مطلوب ترلاسه كړي، او له خپلې وېرې څخه خلاص شي.

د توبې له لارې الله تعالى ګناهونه بخښي، هر څومره چې سترې او ډېرې وي.

﴿قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ 53﴾
(ته (دوى) ته ووايه: اى زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتى كړې دى! تاسو د الله له رحمت څخه مه نااميده كيږئ، بېشكه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشكه دغه (الله)، هم دى ښه بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى 53﴾ [الزمر:53]، اى ګناهګاره وروره! د خپل رب له رحمت

څخه مه نااميده کيږه؛ د توبې دروازه تر هغه وخته پرانېستې ده تر څو چې لمر له لوېديځ څخه راپورته شي.

«إِنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ؛ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ؛ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا»

«ببشکه الله تعالی پرانيسي خپل لاس د شپې له خوا د دې لپاره چې توبه وباسي هغه څوک چې د ورځې ترې ګناه شوې وي، او پرانيسي لاس خپل د ورځې د دې لپاره چې توبه وباسي هغه څوک چې د شپې ترې ګناه شوي وي تر هغه وخته پورې چې کله لمر د مغرب (لوېديځ) له طرفه راوخېژي» رواه مسلم[1].

او څومره خلک دي چې له لويو او ډېرو ګناهونو څخه توبه کوي، او الله ورته بخښنه کوي! الله تعالی فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا٦٨ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا٦٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا٧٠﴾

(او هغه کسان دي چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي او څوك چې د غه (کارونه) وکړي (نو) هغه به د خپلې ګناه له سزا سره مخامخ شي ۶۸

---

1 مسلم په کتاب التوبة، باب قبول التوبة من الذنوب، شمېره(2759) کې د ابو موسى رضي الله عنه له حديث څخه نقل کړی.

د قیامت په ورځ به ده ته عذاب دوه چنده کولی شي او په هغه (عذاب) کې به تل وي، په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي ۶۹

مګر هغه کس چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو دغه کسان دي چې الله به د دوی بدۍ په نېکۍ سره بدلې کړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی ۷۰ [الفرقان:68-70].

خالصه (نصوح) توبه هغه ده چې هغې کې پنځه شرطونه شتون ولري:

لومړی: توبه په اخلاص یعنې یوازې د الله تعالی د رضا، ثواب، او د هغه له عذاب څخه د خلاصون لپاره وي.

دوم: د ګناه په کولو باندې پښېماني، چې د ګناه په کولو خپه شي، او د دې افسوس کول چې کاشکې دا ګناه مې نه وی کړې.

دریم: سمدلاسه ګناه پرېښودل، که چیرې د الله تعالی په حق کې وي، نو هغه باید پرېږدي که چیرې حرام کار وي، او که چیرې دا د یو واجب پرېښودل وي، نو هغه باید د هغه په ترسره کولو کې بیړه وکړي، که چیرې هغه د مخلوق په حق کې وي، نو هغه باید د هغه څخه د خلاصون لپاره بیړه وکړي، یا یې هغه ته بیرته ورکړي، یا د هغه څخه بخښنه وغواړي، او هغه یې معاف کړي.

څلورم: هوډ وکړي چې په راتلونکي کې به دې ګناه ته نه راګرځي.

پنځم: توبه باید د قبولیت له وخت څخه مخکې، یا د اجل د وخت په رارسیدو سره، یا د لویدیځ څخه د لمر د راختلو په وخت کې نه وي، الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ...﴾

(خو د هغو خلکو لپاره توبه نشته چې پرله پسې بد کارونه کوي تر دې پورې چې کله له هغو نه د یو تن مرګ رارسیږي؛ نو په هغه وخت کې وایي چې اوس مې توبه وایستله...) [النساء:18]، او نبي - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي:

«مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا؛ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ»

«هغه څوک چې له دې نه مخکې توبه وکړي چې لمر له لویدیځ خوا نه راوروځي، الله به د هغه توبه قبوله کړي» مسلم روایت کړی[1]، «یا الله! مونږ ته د خالصې توبې توفیق راکړه، او زمونږ (توبه) قبوله کړه، بېشکه ته ښه اوربېدونکی، ښه پوهېدونکی یې».

لیکنه: محمد الصالح العثیمین

په ۱۷/۴/۱۴۰۶ هـ

## دریم فصل: جنازې

د مړي د غسل احکام.

د مړي د غسل کولو طریقه.

د مړي د کفن کولو طریقه.

[1] مسلم په کتاب الذکر، باب استحباب الاستغفار، شمېره (2703) کې د ابو هریرة رضي الله عنه له حدیث څخه نقل کړی.

پر مړي د جنازې لمونځ طريقه.

د مړي د خښولو طريقه.

## د مړي د غسل احکام

الحمد لله ربِّ العالمين، وأشهد أنْ لا إله إلَّا الله، وحده لا شريك له، إلَهُ الأوَّلين والآخرين، وأشهد أنَّ محمدًا عبده ورسوله، خاتم النَّبيين، وإمَامُ المُتَّقين، صلَّى الله عليه وعلى آلِه وأصحابه، ومن تَبِعَهُم بإِحسانٍ إلى يوم الدِّين، وسلَّم تسليمًا، أمَّا بعد:

دا مړي ته غسل، کفن ورکول، او د دفنولو په اړه لنډ معلومات دي، په دې موضوع ته له داخلېدلو نه مخکې لاندې ټکي په پام کې نيسو:

۱- د مسلمان مړي غسل، کفن کول او دفنول فرض کفايي ده، نو هغه څوک چې دا کار کوي، بايد د دې فرض د ادا کولو نيت وکړي، ترڅو د الله تعالى څخه د دې عمل اجر ترلاسه کړي، خو د کافر مړی ته غسل نه ورکول کیږي، او نه کفنیږي، او نه له مسلمانانو سره خښیږي.

۲- غسل ورکونکی د مړي رازونه پټ ساتي، نو بايد ټول ضروري کارونه په احتياط او پوره مسئوليت سره ترسره کړي.

۳- غسل ورکونکی د مړي رازونه پټ ساتي او هيڅ ناخوښه څه (لکه د بدن عيبونه) چې وګوري، د هيچا سره نه شريکوي.

۴- غسل ورکونکی د مړي رازونه پټ ساتي، نو هغه باید له هغه چا پرته چې ورته اړتیا لري؛ په اړولو، اوبو اچولو، او داسې نورو کې د مرستې لپاره، بل چا ته اجازه ورنه کړي.

غسل ورکونکی د مړي رازونه پټ ساتي، نو هغه باید له هغه سره په مهربانۍ او درناوي چلند وکړي، او د جامو د ایستلو، مینځلو او داسې نورو په وخت کې باید تاوتریخوالی یا کینه ونه کړي.

۶- سړی ښځې ته غسل نه ورکوي، مګر دا چې هغه یې ښځه وي، او نه ښځه سړي ته غسل ورکوي مګر دا چې هغه یې میړه وي، پرته له هغه چا څخه چې عمر یې له اوو کلونو څخه کم وي، په دې حالت کې سړی او ښځه هغه ته غسل ورکولی شي، که هغه نارینه وي یا ښځینه.

۷- د غسل کوونکي لپاره سپارښتنه کیږي چې کله غسل پای ته ورسوي نو غسل وکړي، لکه څنګه چې هغه د لویو ناپاکیو (جنابت) لپاره غسل کوي، او که غسل ونه کړي، نو پرې ګناه نشته.

### د مړي د غسل طریقه

د مړي په غسل ورکولو کې اړین ده چې: د هغه ټول بدن په اوبو سره ومینځل شي تر هغه چې پاک شي. غوره ده چې لاندې کارونه ترسره شي:

۱- مړی باید د غسل ورکولو لپاره په داسې شي کېښودل شي چې سر یې لوړ او پښې یې ټیټې وي.

۲- د مړي د شرمګاه شاوخوا د نوم څخه تر زنګون پورې يوې ټوکرې باندې تاو کړي او بيا يې جامې وباسي؛ ترڅو د جامو په ليرې کولو سره يې عورت ښکاره نه شي.

۳= جامې يې په نرمۍ سره ليرې شي.

۴- غسل ورکونکی خپل لاسونو په ټوکرۍ تاووي، بيا د مړي شرمګاه پرته له دې چې ښکاره شي مينځي تر هغه چې پاک شي، بيا دې بايد ټوکرۍ لرې وغورځوي.

۵- يوه ټوکر (ټوټه) دې په اوبو لمده کړي او د مړي غاښونه او پوزه دې پرې پاکه کړي.

۶- د مړي مخ، لاسونه يې تر څنګلو پورې، سر يې او پښې يې تر ښنګرو پورې ومينځل شي، د چپ لاس څخه مخکې ښي لاس او د چپ پښې څخه مخکې ښي پښه ومينځي.

۷- د مړي په خوله يا پوزه کې اوبه بايد وا نه چول شي؛ يوازې د ټوکر په پاکولو باندې بسنه وشي.

۸- د هغه ټول بدن درې، پنځه، اووه يا ډير ځله بايد ومينځل شي، د بدن د نظافت او پاکوالي د اړتيا پر اساس، او د چپ اړخ څخه مخکې د بدن له ښي اړخ څخه بايد پيل وکړي.

۹- غوره ده چې د مينځلو لپاره کارول شوې اوبه د سدر سره ګډې وي. ځکه چې دا په پاکوالي کې ډير اغيزمن دی، هغه د سدر سره مخلوط شوي اوبه په خپل لاس سره وهي تر هغه چې ځګ يې څرګند شي، بيا دې د هغه سر او ږيره په هماغه ځګ سره ومينځي، او پاتې ځګ باندې د بدن پاتې برخه ومينځي.

۱۰- غوره ده چې کافور، چې د عطرو يو مشهور ډول دی، د وروستي مينځلو سره ګډ کړي.

۱۱- که مړی وېښتان ولري؛ بايد ګمنځ شي، او و نه پوښل شي، او هيڅ شی ترې پرې نه شي.

۱۲- که مړی ښځه وي، نو که ويښتان يې کوڅۍ شوي وي، نو بايد خلاصې شي، او کله چې ومينځل شي او پاکې شي، نو په دريو غوټيو کې کوڅۍ کيږي او د هغې شاته کېښودل کيږي.

۱۳- که د مړي ځينې غړي جلا شوي وي، هغه هم بايد ومينځل شي، او ورسره يوځای کېښودل شي.

۱۴- که چيرې مړی د سوځېدو يا نورو لاملونو له امله خراب شوی وي او مينځل يې ناشونی وي؛ د ډېرو علماوو په اند، هغه ته بايد تيمم ورکړ شي، تيمم ورکوونکی په خپل لاس سره ځمکه ووهي او د مړي مخ او لاسونه پرې مسح کړي.

### د مړي د کفن کولو طريقه

هغه څه چې د مړي په کفن ورکولو کې واجب دي: يوه ټوکر چې ټول بدن يې پوښلی وي، خو غوره يې په لاندې ډول ده:

۱- کفن بايد له دريو سپينو ټوټو څخه جوړ وي، يو د بل باندې کېښودل شي، بيا مړی پرې کېښودل شي، بيا د مړي د ښي اړخ پورتنی برخه د هغه سينې ته بيرته وګرځول شي، بيا دې د هغه کيڼ اړخ ته وګرځوي، بيا د دويم او دريمې ټوټې

سره هم همداسې وکړي، بیا دې د سر او پښو پاتې ټوټې برخه دې وتړي.

۲- کفنونه د خوشبويي سره غوړ شي، او د هغو په مینځ کې یو څه حنوط وپاشل شي. حنوط د هغو عطرو مخلوط دی چې د مړو لپاره جوړېږي.

۳- حنوط باید د مړي په مخ، د هغه په تخرګ، خیټه، ورنونه او د سجدو په ځایونو کې لګول کېږي.

۴- مالوچ باندې لږه اندازه حنوط واچول شي او بیا دې د مړي په سترګو، پوزه او شونډو باندې ولګول شي.

۵- مالوچ باندې لږه اندازه حنوط واچول شي او بیا دې د مړي د سورینونو (کوناټیو) په منځ کې دې کېښودل شي، او په یوه ټوکر سره باید وتړل شي.

۶- ښځه په پنځو ټوټو کې کفن کېږي: لنګ، لوپټه (څادر)، کمیس او دوه نورې ټوټې. که چیرې هغه د نارینه وو په څېر کفن شي، نو په دې کې هیڅ حرج نشته.

۷- کله چې مړی په قبر کې کیښودل شي، د کفن غوټې یې باید خلاصې شي.

### *مړي باندې د لمونځ کولو طریقه*

۱- په هر مسلمان مړي باندې جنازې لمونځ کېږي، کوچنی وی یا لوی، نارینه وی یا ښځه.

۲- که حمل د 4 میاشتو وروسته سقط شي، نو پر هغه هم جنازې لمونځ کېږي، هغه ته هم د لوی مړي په څېر غسل او کفن ورکول کېږي او بیا پرې لمونځ کېږي.

۳- که حمل د 4 میاشتو دمخه سقط شي، پر هغه لمونځ نه کېږي، ځکه چې په هغه کې روح نه وي ځای پر ځای شوی، او نه غسل ورکول کېږي، نه کفن کېږي، یوازې په ځمکې کې خښول کېږي.

۴- امام د جنازې په لمانځه کې د سړي سر خوا ته او د ښځې په منځ کې ودرېږي او خلک د هغه تر شا لمونځ کوي.

۵- د جنازې په لمانځه کې څلور تکبیرونه ویل کېږي، په لومړي تکبیر کې، د اعوذ بالله او بسم الله له ویلو وروسته، سورت فاتحه تلاوت کېږي.

او له دویم تکبیر وروسته پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسې درود وایي:

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

«اللهم صلِّ على محمدٍ وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد»

یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت وورو ه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولی وو، ببشکه ته ستایل شوی او لوی یې. یا الله ! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه

ووروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې
چې ورولي وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې.[1]
د دریم تکبیر وروسته د مړي لپاره دعا کېږي، او غوره ده
چې د هغه څه سره دعا وکړي چې له رسول الله صلی الله علیه
وسلم څخه په دې اړه روایت شوي دي،[2] او که دغه دعاګانو
باندې نه پوهېږي، نو هغه څه سره دې دعا وکړي چې ورته
یاد وي.

---

1 بخاري، په شمېره (3370)، او ابو داود، په شمېره (978) کې نقل کړي.

2 او له هغو له جملې څخه: «اې الله! ژباړه: زموږ مړی، ژوندی، حاضر، غایب، لوی، کوچنی، ښځه او نر وبخښه، له موږ څخه دې چې هر څوک ژوندي ساتلي هغوی په اسلام ټینګ وساته او له موږ څخه دې چې هرڅوک مړه کړي هغوی ریښتینې په ایمان مړه کړه.

اې الله! ده ته بخښنه وکړه، پرې رحم وکړه، ده ته عافیت ورکړه، هغه معاف کړه، استوګنځای یې عزتمند کړه، ده ته قبر پراخه کړه، هغه په اوبو، واورې او ږلیو سره پاک کړه، هغه له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپینې جامې چې له خیرو څخه پاکېږي، او د هغه کور د هغه له کور څخه غوره کور سره بدل کړه، او د هغه له کورنۍ څخه غوره کورنۍ او د هغه له ښځې څخه غوره ښځه ورکړه، او هغه جنت ته داخل کړه، او د قبر له عذاب او د اور له عذاب څخه یې وساته.

ای الله! موږ د هغه له اجر څخه مه محروموه، له هغه وروسته مو مه ګمراه کوه، موږ او هغه ته بخښنه وکړه، ای د عالمینو ربه، د هغه قبر د هغه لپاره پراخه کړه او د هغه لپاره یې روښانه کړه. که مړی ماشوم وي، نو باید وویل شي: ای الله! هغه د مور او پلار لپاره د اجر ذخیره او شفاعت کوونکی وګرځوه چې دعاګانې یې قبولې شوي وي. اې الله! د هغوی تلې درنې کړه، اجرونه یې زیات کړه، هغه د مؤمنانو د نیکو سلفو سره شامل کړه، هغه د ابراهیم علیه السلام په پالنه کې وساته، او په خپل رحمت سره یې د دوزخ له عذاب څخه وساته».

"له څلورم تکبير څخه وروسته دې لږ تم شي، بيا دې سلام واړوي، خو که مخکې له سلامه وويل شي چې:
«رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»؛
(اې زموږ ربه موږ ته په دنيا کې هم نعمت راکړه او په اخرت کې هم نعمت راکړه او د اور له عذاب څخه مو وساته)[1]؛ نو په دې کې هېڅ ډول حرج نشته.

### د مړي د ښخولو طريقه

1- واجب ده چې مړی په داسې قبر کې ښخ شي چې د ځناورو څخه يې وساتي، او مخ قبلې ته وي، هر څومره چې قبر ژور وي، هغه غوره ده.

2- غوره ده چې قبر لحد وي، دا په دې معنی چې د مړي لپاره د قبر په منځ کې، د قبلې لوري ته، يو کونج وکيندل شي.

3- روا ده چې قبر شق وي، دا په دې معنی چې د مړي لپاره د قبر په منځ کې کنده و کيندل شي، که چېرته ورته اړتيا وي، لکه دا چې ځمکه نرمه وي.

4- مړی په خپل قبر کې په ښي غاړه قبلې ته مخامخ ايښودل کيږي.

5- د مړي قبر باندې خښتې کېښودل شي او ټينګې شي، او د هغو په منځ کې خټه وکارول شي، ترڅو خاوره پر مړي باندې پرې نه وځي.

---

[1] بخاري، په شمېره (6026)، او مسلم، په شمېره (2690) کې نقل کړې.

6- بیا به قبر پټ کړی شي، او قبر باید لوړ نه وي، او نه باید په ګچ یا نورو شیانو سره ورغول شي.

7- په درې وختونو کې د مړي ښخول جواز نه لري:

کله چې لمر وخېژي تر هغه چې د یوې نیزې په اندازه لوړه شي.

کله چې لمر زوال په وخت کې توقف وکړي، تر هغه چې زوال وکړي.

کله چې د لمر د لوېدو لپاره د یو نیزې په اندازه وخت پاتې وي، تر هغه چې په بشپړ ډول غروب وکړي.

د لومړي او وروستي وخت مقدار نږدې پنځلس دقیقې دي، او د دویم وخت مقدار نږدې لس دقیقې یا دې ته نږدې دی.

8- کافر د مسلمانانو په هدیره کې نه ښخول کیږي، همدارنګه غسل نه ورکول کیږي، او نه کفن کیږي، او نه پرې لمونځ کیږي، بلکې په هغه ځای کې ښخول کیږي چې د چا ملکیت نه وي، مګر دا چې خپل هېواد ته ولیږدول شي.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

الله تعالی ته اړمن بنده لیکلی

محمد الصالح العثیمین

# فهرست


د طهارت، لمونځ او جنازې فقهي احکام .......................................... 2
سریزه ................................................................................ 2
لومړی فصل :طهارت ............................................................... 6
اودس ................................................................................ 6
غسل ................................................................................ 10
تیمم ................................................................................ 12
په موزو باندې مسح کول ........................................................ 16
د موزو، پګړیو او جبیره )پټیۍ یا پلستر (په اړه د پوښتنو یوه ټولګه
............................................................................... 22
موزو باندې مسح ................................................................... 23
:پر پګړیو مسح کول .............................................................. 35
په جبیرې )پټۍ پلستر (مسح کول ............................................... 36
دویم فصل :لمونځ.................................................................. 39
لمونځ ................................................................................ 40
د سهو سجدې احکام ............................................................. 64
د تلاوت سجده...................................................................... 71
:د سجدې تلاوت طریقه * ........................................................ 72
د مسافر لمونځ او روژه ........................................................... 75
څوک چې الوتکه کې سفر کوي څرنګه لمونځ وکړي؟.................. 78
مسافر په الوتکه کې څرنګه د حج او عمرې لپاره احرام تړي؟...... 80
ناروغي، او هغه شیان چې ناروغ باید ورته پاملرنه وکړي .......... 80
ناروغ څنګه طهارت )پاکوالی (ترسره کړي؟............................ 83
ناروغ څرنګه لمونځ وکړي؟.................................................... 86

ناروغ څنګه روژه ونيسي؟ ........................................................ 88
نفلي لمونځ ........................................................................ 90
فضيلت يې *: ........................................................................ 90
نو د نفلي لمونځونو څخه: ........................................................ 90
د نهي وختونه ........................................................................ 95
د لمونځ پرېښودونکي حکم........................................................ 97
توبه........................................................................................ 104
دريم فصل :جنازې................................................................... 108
د مړي د غسل احکام.............................................................. 109
د مړي د غسل طريقه .............................................................. 110
د مړي د کفن کولو طريقه ........................................................ 112
مړي باندې د لمونځ کولو طريقه................................................ 113
د مړي د ښخولو طريقه............................................................ 116

ps128v2.0 - 03/09/2026